`

دامنیت شورا رئیس خپل د زړه له کومې درناوي د امنیت شورا غړو ته تقدیموي، او په دې وسیله د عمومي منشي **د ۲۰۲۳ کال د نومبر د میاشتې ۸** ګڼه لیک کاپی چې د امنیت شورا رئیس ته استول شوي دی، او د هغه ضمیمه په درنښت سره د دغه شورا محترمو غړو ته وړاندی ګیږي.

دغه لیک او د هغه ضمیمه د امنیت شورا د یو سند په ډول دS/2023/856 راپور تر نامه به خپور شي.

۹ نومبر ۲۰۲۳

THE SECRETARY-GENERAL

۸ نومبر ۲۰۲۳

د امنیت شورا ښاغلي رئیس،

د ۲۰۲۳ کال د ۲۶۷۹ ګڼه پریکړه لیک د ۱ پاراګراف پر بنسټ، چې د ۲۰۲۳ کال د مارچ د میاشتې په ۱۶ نېټه د امنیت د شورا په ۹۲۳۸ ناسته کې تصویب شوي و، ویاړ لرم چې، څرنګه چې د پریکړه لیک په ۲ پاراګراف کې توضیح شوی دی، خپلواکه ارزونه وړاندي کوم.

ستاسې څخه هیله کوم چې دغه سند د امنیت شورا غړو ته ورسوئ او د دوي څخه وغواړئ چې د رسمې سند په ډول خپور کړي او ما ته ویاړ وبښي.

ښاغلي رئیس، هیله ده زما د زړه له کومې درناوي و منۍ.

آنتونیو ګوترش

جلالتمئاب ښاغلي ژانګ جون

د امنیت شورا رئیس

نیویارک

۱ برخه. پېژندنه

۲ برخه. کلیدي موضوعات او په ارزونه کې پېژندل شوي لومړیتوبونه

بشري حقونه او په ځانګړي ډول د ښځو او نجونو حقونه
د تروریزم او مخدره توکو په وړاندي مبارزه، او سېمه ییز امنیت
اقتصادي، بشري او انکشافي موضوعات
ټول شموله حکومتولي او د قانون حاکمیت
سیاسي استازیتوب او پر سېمه ییز او نړیوال لومړیتوبونو باندي د هغه اغېزې
۳ برخه. وړاندیزونه
د افغان وګړو بېرنېو اړتیاو ته د رسېدګې له لاري د باور رامنځته کول
په امنیتي سېمه ییز او سیاسي کلیدي مسالو کې دوامداره همکاری
په نړیوال سیستم کې د افغانستان د حکومت د ادغام لپاره لار نخشه
الف. د افغانستان د حکومت مکلفیتونه
ب. د یو لا زیات پراخ بنسټه حکومت د ترلاسه کولو په موخه د بین الافغاني بحثونو تعقیب
ج. د افغانستان د حکومت استازیتوب او عادي وضعیت رامنځته کول
د تعامل د ملاتړ لپاره د میکانیزمونو رامنځته کول
د ملګرو ملتونو په واسطه د سترو ډله ییزو ناستو جوړول
د نړیوال تماس ډله
د ملګرو ملتونو استازی
۴ برخه. پایلې
ضمیمه: د مشورو حیطه

## ۱ برخه. پېژندنه

- د ۲۰۲۳ کال د مارچ د میاشتې په ۱۶ نېټه د ملګرو ملتونو امنیت شورا په اکثریت سره ۲۶۷۹ ګڼه پرېکړه لیک تصویب کړ او د عمومي منشي څخه وغوښتل چې د ۲۰۲۳ کال د نومبر د میاشتې تر ۱۷ نېټې پورې د افغانستان په اړوند خپلواکه ارزونه ترسره او امنیت شورا ته وړاندې کړي.
- د امنیت شورا وغوښتل چې خپلواکه ارزونه باید د یو موټي او منسجم تګلارې لپاره، د ملګرو ملتونو په سیستم کې دننه او بهر د اړوند سیاسي، بشري او انکشافي فعالینو تر منځ، د مخ په وړاندې لارې لپاره، سپارښتنې وړاندې کړي تر څو هغو ننګونو ته رسیدګي وکړي چې اوسمهال افغانستان ورسره مخ دی. عمومي موخه دا ده چې د عام شموله او پرمخ تللي، با ثبات او امن افغانستان موخې، د امنیت شورا په تېرو پرېکړه لیکونو کې د ذکر شوي محتوا سره سم، مخ په وړاندې بیول شي.
- د دغه ارزونې لپاره د مشورې د یوې برخې په ډول زه او زما ټیم زیات وخت په افغانستان کې تېر کړل، د هېواد ټولو حوزو ته سفر وکړ، د کابل پایتخت څخه پیل تر لېرو پرتو ولسوالیو پورې. ما د یو شمېر غړو هیوادونو پایتختونو ته سفر وکړ، کلیدي سیمه ییز او نړیوال برخه والو سره لیدنې ترسره کړ او همدارنګه د هېواد څخه بهر زیات شمېر افغان اوسیدونکو او برخه والو سره تعامل درلود.
- د افغانستان په دننه او بهر کې زما ټیم د افغانستان سیاسي فعالینو او برخه والو، په مرکز او ولایاتو کې، د اوسنۍ چارواکو د استازو په ګډون، نور سیاسي شخصیتونه، افغان ښځې، نارینه، او د بیلابیلو ډګرونو ځوانانو، مدني ټولنه، سوداګران، د ټولنې او مذهبي شخصیتونو سره لیدنې ترسره کړ. همدارنګه ما د افغانستان په اړوند د ملګرو ملتونو راپورونو، او د ملګرو ملتونو د تایید شوي ډیټا او احصایو او نورو تحقیقاتي سرچېنو څخه کار اخېستې دی چې د ارزونې د حیطې سره تړاو درلود.
- مشورو را برسېره کړه چې اوسنۍ نړیوال تعامل کارنده نه ده. دغه تعامل د افغان وګړو د بشري، اقتصادي، سیاسي او ټولنیز اړتیاو ته کومه مرسته نکوي او نه هم د نړیوال برخه والو د بنسټیزو لومړیتوبونو او اظهار شوي اندېښنو ته، د ګاونډي هیوادونو په ګډون، ځواب وایي. د تعامل یوه داسې تګلارې ته اړتیا ده چې د تېرو هڅو څخه تجربه او پوهه ولري، د افغان وګړو پر اړتیا باندې تمرکز ولري او په اوسنۍ افغانستان کې سیاسي حقیقتونه تایید کړي.[1]
- د ۲۰۲۱ کال د اګست په میاشت کې د سیاسي تحول څخه راپېدېځوا په دننه او بهر کې افغان برخه وال، ګاونډي هیوادونه، د ملګرو ملتونو دفترونه او میکانیزمونه او نورو نړیوالو برخه والو، د حکومتولي وضعیت او د اوسنۍ چارواکو تر لاندې د حقونو د خوندیتوب په اړوند او همدارنګه سیمه ییز ثبات او امنیت او د افغانستان څخه راپورته شوي بالقوه ګواښونو په اړوند ژوره اندېښنه څرګنده کړې دي.[2]
- ټول برخه وال په افغانستان کې د ښځو او نجونو د وضعیت په اړوند اندېښنه ښودلې ده، او په نړیوال سوله او امنیت او د افغانستان لپاره د هغه پراخې اغیزې په اړوند اندېښنه ښودلې ده. د نجونو پر ښوونې باندې او ثانوي او عالي زده کړې څخه د دوی محرومول او همدارنګه د ښځو د کار پر حق باندې بندیز لګولو، د نورو بندیزونو د جملې څخه، د ملګرو ملتونو په میثاق کې د یاد شوي بنسټیز ارزښتونو او یا نړیوال قانون سره مطابقت نلري او نه هم دغه بندیزونه د افغانستان د سیاسي او اقتصادی ثبات لپاره ګټه ور دي.
- په خپله برخه کې، اوسنۍ چارواکې په داسې حال کې چې پر سیمه باندې بشپړ واک لري زیات شمېر مکلفیتونو چې د افغانستان دولت اداره کوی، او همدارنګه د سیاسي او اقتصادي چارو په عادي کولو کې ناکام ثابت شوي دي. اوسنۍ وضعیت داسې یو خنډ سره مخ شوی دی چې د افغانستان سره د زیات شمېر نړیوالې ټولنې د هیوادونو اړیکې په یوه ناڅرګنده وضعیت کې قرار لري چې د افغانستان خلک د جدي ناوړو عواقبو سره مخ کړي دي.
- پر انکشافي او تخنیکی مرستو باندی د ډونر هېوادونو محدودیتونه، کوم چې زیاتره برخه یې د اوسنۍ چارواکو له خوا د ښځو او نجونو پر حقونو باندې د بندیزونو د لګولو په غبرګون کې ترسره شوي دي، د نړیوالو مرستو هغه کچه محدوده وی چې کولای شي د افغانانو لومړني اړتیاوي په دوامدار توګه پوره کړي، او د یو داسې ټولنې چې د زیات

[1] د مشورو د دایرې د لنډیز لپاره ضمیمه وګورئ.

[2] د ساري په ډول، د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۶۸۱ (۲۰۲۳) او ۲۶۷۹ (۲۰۲۳) پرېکړه لیکونه وګورئ؛ د ملګرو ملتونو عمومي منشي د افغانستان د وضعیت په اړه منظم راپور؛ د بشري حقونو د عالي کمشنري دفتر راپور، A/HRC/54/21، (له دې ورسته A/HRC/54/21)؛ په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت او د ښځو او نجونو په وړاندې د تبعیض په اړه د کارې ډلې د ځانګړي راپور ورکوونکې، راپور (۲۰۲۳ د جون د میاشتې ۲۰ نېټه)، A/HRC/53/21.

شمېر ټولنيز، اقتصادي، چاپېريال او نورو اړتياو سره مخامخ دي، د دوي د انعطاف پذيري د وضعيت سره مرسته وکړي. رسمي او غير رسمي مالي بنديزونه او د باور نشتوالي په افغانستان کې بانکداري سيستم او خصوصي سکتور معلول کړی دی. د ۲۰۲۱ کال په اخره برخه کې د رامنځته شوي بحراني وضعيت له امله اوسمهال اقتصاد ثبات موندلی دی، خو يوازې په ډېره يوه کوچنۍ مقياس کې او همدارنګه ماتيدونکې پاتې ده. د ډونرانو په مرسته کې د راتلونکې ممکنه کموالي چې د نړيوال سيالي اړتياو څخه او په افغانستان کې د مرستو په رسولو کې د خنډو له امله سرچېنه نېسي، او د اوسنۍ چاروا‌کو د محدود کوونکې پاليسيو څخه ناشې شوي، کولای شي دغه ماتيدونکې اقتصادي حالت او د بشرپالنې وضعيت او بې ثباتي نوره هم ناوړه کړي.

- روغتيايي، ټولنيز رفاه، پرمختګ او امنيت په افغانستان کې يوازې د داخلي پام او توجه مسله نه ده. په تاريخي، کلتوري او سياسي له اړخه افغانستان او د هغه متنوع ټولنې د سېمې او ګاونډې هېوادونو سره ژور تړاو لري، هغه څه چې د افغانستان وګړي اغيزمنوي، ټوله سېمه او تر هغه هاخوا باندی هم اغيزه کوي. افغانستان دا ظرفيت لري چې د سوداګري لپاره په سېمه کې د يو مرکز په ډول د اتصال ټکی، او د وګړو سره د اړيکې په ډول وده ورکړ شي چې سېمه پياوړي او بډاي کړي. خو په ورته حال کې دغه هېواد د دې ظرفيت هم لري چې، د ناقونونه مخدره توکو لپاره اصلي هېواد په ډول، د نړيوال ترورېزم او سخت دريځ آيډيالوژي لپاره مرکز، او همدارنګه د ډله ييز مهاجرت او يا بېځايه کېدو د ظرفيت د درلودلو سره، بې ثباتي رامنځته کړي.
- نه نړيواله ټولنه او نه هم د افغان ولس اکثريت دا هېله لري چې په افغانستان کې يوه بله وسله واله جګړه وويني. دغه هېله د ځايي خلکو، په ملې کچه او سېمه ييز ثبات لپاره ګډ بنسټيز بنياد او د نړيوالي ټولنې د راتلونکې تعامل لپاره بنسټ دی. موږ بايد يو داسې سياسي تګلاره تاييد کړو چې د هغه په ذريعه د ټولو خواوو ګټې – د افغان ولس، نړيواله ټولنه، او اوسني چارواکو په ګډون – وکولای شي په شفاف ډول سره تر بحث لاندی ونيول شي او خبری ورباندي وشي.
- د دغو بحثونو پايلې د راتلونکې وخت لپاره داسې يو تعريف دی چې د افغانستان هېواد، پرته له دې چې د تاوتريخوالي يوه بله دوره تجربه کړي، په نړيوال سيستم کې په بشپړ ډول سره ګډ شي او د ټول حقوقي مکلفيتونو درناوي وکړي.
- **د امنيت شورا له خوا د سپارل شوي دندي په ځواب کې، او د يو شمېر برخه والو سره د مشورو پر بنسټ، دغه راپور د مخ په وړاندي مسير لپاره وړانديزونه او مهندسي شوي تعامل چمتو کوي چې لاربښود ثابت شي او د سياسي، بشري او انکشافي فعاليتونو کې لا زيات همغږي راوړي؛ او يو داسې لار نخشه چې وکولای شي د لا زيات اغيزمنو خبرو لامل شي او د نړيوال برخه والو او افغانانو لومړيتوبونه پلي شي.**

## ۲ برخه. کليدي موضوعات او په ارزونه کې پېژندل شوي لومړيتوبونه

- د دغه ارزونې لپاره سپارل شوي دنده دا وه چې "هغه ننګونې چې اوسمهال افغانستان ورسره مخ دی، د لاندې ننګونو په ګډون خو نه محدود په، بشرپالنې، بشري حقونه، په ځانګړي توګه د ښځو او نجونو حقونه، مذهبي او توکميز لږکيو، امنيتي او ترروريزم، مخدره توکې، انکشافي، اقتصادي، ټولنيز ننګونې، ډيالوګ، حکومتولي او د قانون حاکميت"په پام کې ونيول شي.
- د مشورو پايله د دغو ټولو ډګرونو او عرصو لپاره د ډېرو مهمو موندنو لامل شوی دی. په مشخصه توګه د ۲۰۲۳ کال د مې په مياشت کې د عمومي منشي له خوا داير شوي د افغانستان لپاره د ځانګړو استازو په غونډه کې، د دواړو ننګونو او راتلونکې لپاره بالقوه ګامونه، د تشخيص شوي کليدی لومړيتوبونو ته د رسيدګې لپاره وړاندي شوي نظريات دي. په دغه نظريات کې د افغانستان او د سېمې ثبات؛ د تروريستي سازمانونو شتون؛ عام شموليت او بشري حقونه، په ځانګړي ډول د افغان ښځو او نجونو حقونه؛ او د مخدره توکو د قاچاق په اړوند اندېښنې شامل وو.[3]
- د هغو برخه والو سره چې د دغه ارزونې لپاره مشوره شوي وو، دوي په پراخه پيمانه پر دغه لومړيتوبونو باندې اصرار کول. همدارنګه يو زيات شمېر برخه وال په افغانستان کې د اقتصادي وضعيت د ښه کولو په خاطر د سترو لارو او

[3] د افغانستان په اړه د مطبوعاتو په غونډه کې د عمومي منشي پرانېستونکې وينا، د ۲۰۲۳ د مې د مياشتې ۲ نېټه.

وسیلو لپاره غبږ وکړ چې د ټول افغان ولس لومړني اړتیاوي پوره شي او د افغانستان او سېمې لپاره لا زیات با ثباته وضعیت ډاډمن شي.

**الف: بشري حقونه، په ځانګړي ډول د ښځو او نجونو حقونه**

- د ټولو اتباعو د بشری حقونو د بشپړ او یو سان خوندیتوب د ملګرو ملتونو د غړي هیوادونو د بنسټیزو مکلفیتونو ښکارندوي دی او د اوږد مهالي پراختیا، اقتصادي ودې او ثبات لپاره ضروري ده. په اوسني محتوا کې د افغان اتباعو د حقونو محدودیتول او د هغه څخه تېری، په ځانګړي ټوګه د ښځو او نجونو حقونه – په کافي پیمانه د اوسني سیاسي خنډ سره مرسته کړي دی.
- د افغانستان هېواد کلیدی نړیوال کنوانسیونونو او د بشري حقونو معاهدو غړي هېواد دی او ځانګړو مکلفیتونو ته ژمن پاتې شوی دی.[4] د دا ډول مکلفیتونو منل نه یوازې د تېریو څخه ډډه کول دی بلکه د یو داسې چاپېریال رامنځته کول هم دی چې، د تحفظی نهادونو، قوانین او پالېسي ګانې د رامنځته کولو له لارې چې وکولای شي د قانون حاکمیت او حساب ورکونه ترویج کړي، په هغه کې د بشري حقونو درناوی کېږی.[5]
- د ځواک د تر لاسه کولو راپدېخوا، اوسني چاروکي داسې تدبېرونه نیولي چې د دغو مکلفیتونو یوه برخې سره مطابقت لري. په دغه تدبېرونو کې په یو شمېر وزارتونو کې د بشري حقونو د دفترونه او یا د نظارت ځانګې رامنځته کول، د توقیف شویو کسانو لپاره د خوندیتوب تدبیرونو معرفي کول، د تېر رژیم د چارواکو او امنیتي ځواکونو پرسونل لپاره د عمومي عفوي اعلان، او د یو شمېر نړیوال معاهدو، نړیوال څارونکې او نور د حساب ورکوونې میکانیزمونو ته هغه مهال مثبت غبرګون ښودلي دي کله چې دوي ته ځانګړي تخطېګانې په ګوته شوي او یا راپور ورکړ شوي دي.[6]
- اوسني چارواکې د ۲۰۲۱ کال د دسمبر په میاشت کې یو فرمان صادر کړ چې په زوره ودونه یې منع کړل، د کونډو د میراث حق یې خوندي کړ او ښځو ته د خاوند د انتخاب حق ورکړ. خو د دغه فرمان د خوندیتوب احکام په لړه کچه پلې شوي دې، او د هغه د احکامو بشپړ پلې کیدل د ښځو او نجونو د حقونو لپاره د خوندیتوب او حقوقي حقونو د نهادونو د له منځه وړلو له امله اغیزمن شوي دي.[7]
- د ښځو او نجونو وضعیت، په ځانګړي توګه د نجونو د تعلیم پر حق باندې محدودیتونه، یوازنی ګډه موضوع وه چې د مشورو په بهېر کې رابرسېره شو. دغه موضوع یوازی د افغان ښځو او نجونو له خوا نه دی مطرح شوي بلکې د افغان برخه والو هره مشوره شوی ډله، د سوداګري ټولنې، دیني عالمانو، قومي مشرانو، مدني ټولنه، د تعلیم او روغتیا متخصصین، د پخواني حکومت چارواکي او همدارنګه د اوسني چارواکو یو زیات شمېر استازي د دغه موضوع یادونه وکړه. په دننه او بهر کې د افغان برخه والو دلې دغه موضوع ته په اشاره سره وویل چې اوسني وضعیت د افغان ټولنې، دود او کلتور بیانوونکې ندی او باید چې په بېړه سره لېرې  شي.
- د ښځو او نجونو په وړاندې محدودیتونه چې د ۲۰۲۱ کال د سپمتبر د میاشتې راپدیخوا نافذ شوي دي، د یو شمېر نړیوالو معاهدو مکلفیتونو سره په ټکر کې دي، د ښځو په وړاندی د هر ډول تبعیضونو د له منځه وړلو د کنوانسیون په ګډون، چې د افغانستان هېواد په کال ۲۰۰۳ کې دغه کنوانسیون تایید کړي دی.

[4] د دې مهمو تړونونو څېنې مکلفیتونه عبارت دې له: د شکنجې او نورو ظالمانه غیر انساني او یا سپکاوي چلند او یا د سزا په وړاندې کنوانسیون (سې ای ټې)؛ د مدني او سیاسې حقونو نړیوال تړون (آي سي سي پې آر)؛ د جبرې لادرکه کیدو څخه د ټولو اشخاصو د ساتنې کنوانسیون (سي اي ډي)؛ د ښځو پر وړاندې د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون (سي اي ډې ای ډبلیو): د نژادې تبیعض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو نړیوال کنوانسیون (سي اي آر ډې): د اقتصادي، ټولنیز او کلتوري حقونو نړیوال تړون (آي سې اي اس سې آر)؛ د ټولو مهاجر کارګرانو او د هغو د کورنیو د غړو د حقونو د ساتنې نړیوال کنوانسیون (سي ام ډبلیو): د ماشومانو د حقونو کنوانسیون (سې آر سي)؛ د معلولیت لرونکو اشخاصو د حقونو کنوانسیون (سي آر پې ډي). د نړیوال بشردوستانه نړیوال قانون ژمنو پورې اړوند، افغانستاند ژنو د څلورو کنوانسیونونو او د هغو د دوو اضافي پروتوکولونو غړی هم دی. د نورو تړونونو د ژمنو په منځ کې افغانستان د پرسونل ضد ماینونو د منع کنوانسیون او د کلستر/ ډله ییز وسلو کنوانسیون، چې د جګړی د طریقو او وسیلو پوری تړاو لري، هم غړیتوب لري.

[5] A/HRC/54/21، ۵

[6] وګورئ:A/HRC/54/21، ۱۷-۱۲

[7] د ښځو چارو وزارت او نورې ادارې او بنسټونو چې د ښځو د حقونو د بشپړ خوندیتوب او په عامه ژوند کې د ونډې د تامین په موخه جوړ شوي وو، له منځه وړل شوي دي. A/HRC/54/21، ۲۴

- په دغه کې ټول هغه فرامین او اوامر شامل دي چې د شپږم ټولګي څخه پورته نجونې د تعلیم څخه محرومومي او په یو شمېر ځانګړو مسلکونو او دندو کې ښځو ته د کار کولو حق نه ورکوي او همدارنګه د ښځو د آزاد خوځښت او په یو شمېر عامه ځایونو کې د دوي د ګډون پر ځواک باندي ناوړه اغېزه کوي.[8] د ښځو او نجونو په وړاندي د محدودیتونو حیطه دومره زیاته ده چې ځېنې نړیوال څارونکي او د ملګرو ملتونو د بشری حقونو میکانیزمونه د نړیوال حساب ورکووني د تدبیرونو غوښتنه وکړه.[9]
- د نړیوالې ټولنې یو شمېر برخه وال، د ګاونډي هېوادونو، اسلامي هیوادونو نورو غړو، د ملګرو ملتونو د نهادونو په ګډون ټېنګار وکړ چې د ښځو او نجونو بنسټیز حقونه او په ټولنه کې د دوي ونډه او ځای باید خوندي او درناوی شي. اوسني چارواکې هڅه کوي چې توجیه کړي چې دغه محدودیتونه د اسلامي اعتقاداتو او د افغانې ټولنې د دودونو یوه برخه ده. په داسې حال کې چې د اسلامي همکاري د سازمان د غړو په هېوادونو کې ورته محدودیتونه شتون نلري او زیات شمېر افغان برخه وال د اوسنې چارواکو له خوا د تعریف شوي دودیز ځانګړنې ردوي.
- د ښځو او نجونو بنسټیز حقونه، د زده کړې، کار او په عامه او سیاسې ژوند کې د استازیتوب کولو په ګډون – نه یوازې د دولت د بنسټیزو مکلفیتونو څخه ګڼل کېږي بلکه د اوږد مهاله پراختیا، اقتصادي ودې، سولې او امنیت ته د حکومت د ظرفیت په زیاتولو کې مهمه ونډه لوبوي. په نړیواله ټولنه او سیسټمونو سره د افغانستان هېواد بیا رسمي یوځای کیدل د افغان ښځو د برخې اخیستلو او مشرتوب غوښتنه کوي.
- همدارنګه مشورو د نورو خواوو سره د غیر مساوي چلند او تبعیض موضوع هم څرګند کړل. په اتباعو کې د نور قومي او یا مذهبي لړکیو ډلو غړي د ګوښه کولو چلند اظهار کړي دي، او د تبعیض او غیر مساوي چلند بېلګې وړاندي کړي دي کله چې دوي هڅه کړې چې د حکومت خدمتونو ته لاسرسي وموي، خپل اندېښنې څرګند کړې، او یا د خپل مذهبي، سیاسي او یا دودیز اظهار لپاره خپل حقونه تعمیل کړي.
- د عمومي عفوې د اعلانولو سره سره غیر قانوني وژنې او توقیفولو په اړه، د پخوانې حکومت د چارواکو او امنیتي ځواکونو د پرسونل په ګډون، راپورونه دوام لري.[10] په داسې حال کې چې د اوسني چارواکو ځېنې ستر مقامات د عمومي عفوي د انفاذ په اړه بیانونه ورکړي دي، د عمومي عفوي د پالېسي څخه د تېري په اړوند د ادعا شوي قضیو په اړوند لږ عامه تحقیقات تر سره شوي دي او همدارنګه د انظباطي او یا حساب ورکونې د تدبیرونو لږ شواهد شتون لري. دغه موضوع د ډار او معافیت یو چاپېریال رامنځته کړی دی.
- په افغانستان کې مدنې چاپېریال په کافي انداز کوچني شوی دی، وروسته له هغه چې پر مدنې ټولنه او رسنیو باندي محدودیتونه، څارنې او آزار او اذیت زیاد شوي دي، چې د ځېنو کسانو د خپل سر توقیفولو ته منجر شوی دی.[11] ژونالسټي راپورونه برسېره کوی چې دا ډول ځوروني د رسنیو په مبهم طرزالعملونو کې په اغیزمن ډول سره منع شوی دي.[12]
- د اوسني چارواکو له خوا په عدلې او قضايي سیسټمونو کې د کلیدي عناصرو له منځه وړل د بشری حقونو د خوندېتوب او قضاء ته لاسرسی لا زیات اغیزمن کړی دی. د لوی څارنوالی دفتر او همدارنګه د افغانستان د

---

[8] اوسني چاروکې تر دې دمه کابو ۸۰ فرمانونه صادر کړي، چې ۵۴ فرمانونه یې د ښځو او نجونو، د دوي ښونځیو، پوهنتونونو، سفر، عدالت، دندې؛ په رسنیو کې؛ د کور څخه بهر او تفریحی فعالتونو په تړاو دې. د نورو جزیاتو لپاره وګورئ: A/HRC/54/21، ۱۳۲

[9] په افغانستان کې د بشري وضعیت په اړه د ځانګړی راپور ورکوونکي راپور او د ښځو او نجونو په وړاندې د تبعیض په اړه د کارې ډلې راپور دې نتیجې ته رسیدلې چې "د ښځو او نجونو په وړاندې ګوښه کول او تبعیض نهادېنه شوي دي او په دې توګه د بشري حقونو یو جدې او منظمه سرغړونه ده چې د ملګرو ملتونو د منشور پر خلاف دې." A/HRC/53/21، ۹۶-۹۵

[10] یوناما راپور ورکوي چې ۲۰۲۱ کال د اګست د ۱۵ نېټې څخه د ۲۰۲۳ د جون د میاشتې تر ۳۰ نېټې پورې، اوسني چارواکې لږ تر لږه ۲۱۸ د محاکمې پرته وژنې او ۲۲۴ د په خپل سر نبونې او توقیفولو کې مسؤل وو. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندوي ماموریت، - "د سولې راویستلو په وړاندې یو خنډ: په افغانستان کې د پخوانې حکومت چاروکې او د وسله والو ځواکونو د پخوانې غړو په وړاندې د بشری حقونو سرغړونه: د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې ۱۵ نېټې څخه د ۲۰۲۳ د جون د میاشتې تر ۳۰ نېټې پورې"، د ۲۰۲۳ کال د اګست میاشت.

[11] A/HRC/54/21، ۲۳ – ۳۶. یوناما، - "په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت: د ۲۰۲۱ د اګست د میاشتې د ۱۵ نېټې څخه د ۲۰۲۲ د جون د میاشتې تر ۱۵ نېټې پورې"، ۲۰۲۲، جولای. د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۳ کال د مارچ په میاشت کې، د نجونو د زده کړې یو تن فعال مطیع ویسا پرته له کوم دلیل ونیول شو او په توقیف کې دی. یوناما "په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت: د ۲۰۲۳ کال د مې – جون تازه معلومات"، ۲۰۲۳، جولای. ۲ مخ.

[12] یوناما "په افغانستان کې د بشری حقونو وضعیت: د ۲۰۲۳ کال د می – جون تازه معلومات،" د ۲۰۲۳، جولاي ۱۷ نېټه، ۵ مخ.

مدافع وکیلانو خپلواکه ټولنه له منځه وړل شوي دي.[13] په قضايي پروسو کې قانوني روندونه له منځه وړل شوي دي، او د قاضیانو او حقوق پوهانو لپاره معیاري طرزالعملونه او یا قانون شتون نلري چې دوي ورباندې عمل وکړي او د یو شفافه محمکې لپاره قواعد شتون نلري.[14]

- د بشري حقونو دا ډول اندېښنې په ډول هېواد کې د افغان برخه والو له خوا د مشورو په ترڅ کې یاد شوي او شریک شوي دي، څکه دا ډول کړنې چې د افغان وګړو د ژوند عادې چارو څخه منعه کوي، د وګړو په یوه ستره برخه کې د اوسني چارواکو د نه مشروعیت سره مرسته کړي.

**ب. د تروریزم او مخدره توکو په وړاندې مبارزه، او سېمه ییز امنیت**

- څرنګه چې د افغانستان په اړوند د عمومي منشي ربعوار راپورونو کې تر سترګو شوي دي، د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې د ۱۵ نېټې راپدېخوا په افغانستان کې امنیتي وضعیت ښه شوی دی، چې د سفر او ترانسپورت لپاره آسانتیا دی. د اقتصاد کمزوره کول د وسله والو فعالېنو او بیلابیل اداري فساد له امله په چټکۍ سره کم شوی دی.
- زیات شمېر نړیوال برخه وال د نړیوال تروریزم سره مبارزه کې د دوي په استازیتوب لیوالتیا کې، په ځانګړي ډول اسلامي حکومت د خراسان ولایت ځانګې تروریستي ډله په وړاندې مبارزه، د اوسني چارواکو هڅې تایید کړي دي.
- د دې برسېره یو شمېر غړي هېوادونه په افغانستان کې دننه د تروریستي ډلو او افرادو، د القاعدې د غړو په ګډون، دوامدار شتون تاییدوي.[15] د دغه راپورونو پر بنسټ د پاکستان د طالبانو د تحریک زیات شمېر غړي په افغانستان کې تګ راتګ او پټنځایونه لري چې په پاکستان کې دننه د تاوتریخوالي څخه ډک کمپاینونه تر سره کوي.[16] د ملګرو ملتونو راپورونه ښيي چې دا ډول ډلې د اوسني چارواکو د ځېنو عناصرو سره اړیکې لري.
- اوسني چارواکي د دا ډول ډلو سره د چلند او د دوي د حضور په اړوند د نړیوالې ټولنې تعامل ته محدود غبرګون اظهار کړی دی. دوی دا لیوالتیا څرګند کړی چې ځانګړی محدودیتونه او مخنیونکي تدبیرونه پلې کړي خو د مشورو پر بنسټ دا ډول تدبیرونه د غړي هېوادونو اندېښنو ته ځواب نه وايي کوم چې دوي په نبغه د ګواښ او بې ثبات کولو سره مخ دي.
- برخه والو یادونه وکړه چې دا ډول اصلي ګواښونو او اندېښنو د کمولو او مخنیولو لپاره پر پولو باندې پیاوړي مدیریت او امنیتی کنټرول خورا مهم دی. دوي راپور ورکړی چې په تېرو دوو کلونو د پولو د امنیت او د کنټرول په خاطر د افغانستان او د هغه د ګاونډیو تر منځ پر یو شمېر نړیوالو پولو باندې د دوه اړخیزو کاري ډلو د رامنځته کولو په ګډون، تعامل مسلکي ښه خپل کړی دی. اوسني چارواکي او ګاونډي هېوادونه ټېنګار کوي چې دغه موضوع، د نړیوالو او سېمه ییزو برخه والو له خوا د تخنیکي مرستو په ګډون، لا زیات همغږۍ او ښوالي ته اړتیا لري.
- اوسني چارواکي د خپل اعلان شوي کمپاین چې د مخدره توکو د کښت، پروسس او قاچاق لومړي کموي او په تدریجي ډول سره له منځه وړي، ښه پرمختګ له ځانه ښودلې دي.[17] زیات شمېر برخه وال داسې هېلې څرګند کړي چې په دغه ډګر کې، په ځانګړي ډول بدیل محصولات او معیشت د هغو زرګونو افغانانو لپاره کوم چې د عاید د تولید لپاره د مخدره توکو کښت او سوداګري باندې متکي دي، ستره نړیواله همکاری وهڅول شي.
- د سېمه ییز، پولو او امنیتي ډینامیکونو په اړوند د زیات تعامل لپاره هم اړتیا او هم لېوالتیا شتون لري. د نړیوالې ټولنې او د اوسني چارواکو ګډه لېوالتیا په یو شمېر ډګرونو کې د همکارۍ لپاره بالقوه وړاندیز کوي، که څه هم د نړیوالې ټولنې او د افغانانو اندېښنو ته د رسیدګې په خاطر د نظریاتو زښت تبادل ته اړتیا لري.

---

[13] وګورئ: A/HRC/54/21، ۱۲ - ۱۷

[14] ځانګړي راپور ورکوونکو مارګاریت ساترت وایت او ځانګړي راپور ورکوونکې ریچارد بینت،: د ملګرو ملتونو متخصصین: په افغانستان حقوقي مسلکي کسان له سختو ګواښونو سره مخ دي، بېړنې نړیوال ملاتړ ته اړتیا لري. د رسنیو بیان. ۲۰۲۳ کال، جنوری ۲۰ نېټه.

[15] وګورئ: S/2023/370، ۲۰۲۳، جون ۱ نېټه.

[16] ایضاً: نورو سېمه ییزو شریکانو د ختیځترکستان اسلامي غورځنګ او د ترکستان اسلامي ګوند (ETIM/TIP)، او د ازبکستان اسلامي غورځنګ (IMU)، په شمول د ملګرو ملتونو له خوا منعه شوي بیلا بیلو وسله والو ډلو په اړه اندېښنه څرګنده کړه.

[17] لکه څنګه چې، د ۲۰۲۳ کال د سپتمبر د میاشتې په ۲۶ نېټه امنیت شورا ته د افغانستان په اړه د سرمنشي ځانګړي استازې معلومات ورکولو په ګډون، د ملګرو ملتونو په راپور کې په مکرر ډول سره یادونه شوي.

## ج. اقتصادي، بشري او انکشافي موضوعات

- د برخه والو زیاتره برخه ټینګار کول چې د نړیوال تعامل هره ستراتیژي باید په ګډ ډول سره بشري، اقتصادي او انکشافي ننګونو ته پام وکړي، چې افغانستان ورسره مخ دی، ګاونډي هېوادنه ټینګار کول چې یو سالم او پیاوړي افغان اقتصاد، د سیمې سوداګرۍ لپاره مهمه ده چې د دوي کمپنیګانو ته اقتصادي ګواښ او همدارنګه د کنټرول څخه وتلې بالقوه مهاجرت اماکن کموي. یو زیات شمېر مشوره شوی افغانان د بېړنۍ مرستو غوښتنه وکړه خو په عین حال کې د خپل راتلونکې اقتصاد او خپلواک معیشت فرصتونو د هڅولو او بشپړه پانګونې لپاره پر ځواک ټینګار کول.
- د ۲۰۲۱ کال د اګست میاشت څخه مخکې د مرستو جریان د کورنۍ ناخالص تولیداتو ۴۰ تر ۴۵ سلنه جوړوله چې د عامه لګښتونو شاوخوا ۷۵ سلنه تمویلول چې په هغه کې کابو د حکومت نیمایي بودجه شامل و. دغه مرستې د ۲۰۲۱ کال د اګست په میاشت کې په بېړه سره په ټپه ودریده او نړیوال بانکې سیسټم ته لاسرسي او بهرنۍ اسعارو خدمتونه، د ځانګړو تعزیراتو تر رژیم لاندی کنګل شو. دغه مسله یوه پېچلې اقتصادي ناورین لامل شو. بنسټیز خدمتونه، د روغتیایي او زده کړې خدمتونو په ګډون، ګډوډ شول، په داسې حال کې چې د خصوصی سکتور فعالیت ویجاړ شو، ستر اقتصادی ثبات هم د ګواښ سره مخ شو. د یونوچا د آخریني راپور پر بنسټ ۲۹،۲ میلیون افغان وګړي د بشرپالنې مرستو ته اړتیا لري چې له دې جملې څخه ۱۵،۳ میلیونه کسان په جدې توګه د خواره نا امنې سره مخ دي.[18]
- په داسې حال کې چې اقتصاد نوي له سره ثبات وموند، د کورنیو په کچه د رفاه وضعیت او د ستر اقتصاد د یو ټیټ تناسب په جدې ډول پاتې ده.[19] د هغو ټولو افغانانو لپاره کوم چې مرستو ته اړتیا لري د موجوده مرستو کچه کافي نه ده. د مرستو د لا زیات کموالي تمه کیږي چې کیداي شي اقتصاد او بشري وضعیت لا بې ثباته کړي.

- بانکې سیسټم لا تر اوسه په عادی ډول سره کار نکوي، او د نړیوال مالي جریان محدود دی.[20] د سوداګرۍ او نور ډولونو د پیسو راکړه ورکړه کابو په بشپړ ډول سره د غیر رسمې لارو او طریقو څخه ترسره کیږي. د بهر څخه د خپلوانو له خوا د پیسو استول، چې د اوږدې مودې لپاره د افغان کورنیو د انعطاف پذیري مهمه سرچینه ده، هم د خنډ سره مخ شوی دی. بانکونو د موجوده زغم پر تدبیرونو باندې متکې دی او د منځګړي بانکداری فعالیت ندي ترسره شوي، او د خصوصې سکتور پورونه کابو په بشپړ ډول سره شتون نلري.
- د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتي راپدېخوا د بانکې سیسټم سوړوالي او د افغانستان پر اقتصاد باندې د باور نشتون هم د اوسنې چارواکو د پالیسیګانو له امله دی. د کلنې شفافیت لپاره د تدبیرونو په جوړولو کې پاتې راغلل، د قضایي سیسټم او بنسټیز حقوقي تضمینونو د نهادونو لغوه کول او همدارنګه په اقتصاد کې د ټولنې د ټولو سکتورونو غیرمساوي برخه اخیستل، ټول په ګډه د نړیوال ډونرانو او پانګه اچوونکو په منځ کې د دوامدار لېږ باور سره مرسته کړی دی. یو شمېر وزارتونه، یو څه د هېواد څخه د مسلکې کسانو د وتلو له امله او یو څه هم د اوسنې چارواکو له خوا د ځانګړو پالیسګانو له امله – د هغو کسانو په وړاندې چې د جمهوریت په سیسټم کې دنده ترسره کړې وو – د تخنیکې مسلکې کسانو او ښځینه ملکې کارکوونکو په ګډون، د کافي تخنیکې ظرفیت نشتون سره مخ دې.
- که څه هم د افغانستان اقتصاد په موقت ډول سره ثبات موندلی دی، خو اوس هم ماتیدونکې دی، او د داخلي ناخالص تولید د ټیټې کچې له امله برسېره، د سترو تنقیصونو د ګواښ سره مخ دی.

---

[18] د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږي دفتر د آسیا پسفیک بشردوستانه تازه معلومات. ۲۰۲۳، سپتمبر.

[19] د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږي دفتر، د بشري غبرګون پلان بیا کتنه (۲۰۲۳ جون تر دسمبر میاشت) افغانستان. " ۲۰۲۳ کال د جون میاشت. د افغانستان لپاره د خوراک نړیوال سازمان. نړیوال بانک، د افغانستان د هوسایڼې د څارنې سروي (AWMS): دریم پړاو." د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر میاشت. ۶ مخ.

[20] اړونده بانکونه د پیسو مینځلو او د تروریزم د تمویل سره د مبارزې (AML-CFT)، نړیوال رژیم لاندې د مالی سکتور د حکومتولي نا کافي ترتیباتو او د بندیزونو اړوند ګواښونو ته په پام کې نیولو سره د افغانستان مالې سیسټم سره معامله کول ته زړه نا زړه دې. اریکا موریت د افغانستان د بحرانې خصوصې سکتور د بیا ژوندې کول په وړاندې خنډونه. د ناروې د مهاجرینو شورا، ۲۰۲۳ کال، مارچ. ۱۷-۲۰ مخ. نړیوال بانک. د افغانستان پرمختیایي تازه معلومات – د بې ثباتي وروسته ناڅرګندتیا. نړیوال بانک. ۲۰۲۳ کال، اکتوبر. ۳۹-۴۲ مخ.

- د نړیوال مرستو جریان او د نغدو پیسو دوامداره لېږد، چې د بشرپالنې د مرستو د چمتو کولو لپاره اړتیا ده، د دویم اغیزې په ډول، د ستر اقتصاد د ثبات سره مرسته کړې ده. خو دواړه نړیوال او افغان برخه وال د دغه نغدو پیسو د لېږ په اړه اندېښنه څرګند کړي، ځکه چې په خپل اوسني بڼه کې با ثباته نه دي.
- د اوسني چارواکو له خوا د کوکنارو پر کښت باندې وروستنې بندیز، په داسې حال کې چې د مخدره توکو په وړاندې د نړیوال مبارزه په محتوا کې یو مثبت ګام دی، ممکنه ده د افغانستان پر کلیوالي اقتصاد، کورنې رفاه، او ستر اقتصاد پر ثبات باندې جدې منفي اغیزې ولري، که چېرې د ډونرانو له خوا د معیشت بدیل په ډګر کې د هر اړخیز ملاتړ سره مل نه وي.
- د زیات شمېر ډونرانو له خوا د پراختیایي مرستو پر چمتو کولو باندې اوسنې وضعه شوې محدودیت، او همدارنګه چې مرستې په کوم ډول سره چمتو کیداې شي – د ساري په ډول د هر ډول تخنیکي مرستو ممنوعیت – د باثباته او اغېزمن لګښت له لارې، کوم چې وکولاې شي بنسټیز اړتیاوو ته ځواب ووایې، د نړیوال مرستو کچه محدودوې. د سیاسي حساسیتونو له امله مرستې د حکومت د سیستمونو له لارې پرته، د ملګرو ملتو د موسسو او نړیوالو انجوګانو د متداخل شبکې له لارې وړاندې کیږي چې اکثراً زیات لګښت وري، کافي همغږي ندې او همدارنګه په ټول هېواد کې د اړتیاو په انډول نه دي. د جمهوریت د نظام د رنګیدو وروسته اکثراً مرستې د بشرپالنې د لنډ مهاله مرستې په ډول وړاندې شوې دي.
- پر همغږې او تخنیکي مرستو باندې اوسنې وضعه شوې محدودیتونه، په ځینو سکتورونو کې، د کرهنې، اوبو مدیریت، د معیشت د ملاتړ نور ډګرونه، ماین پاکې، او عامه روغتیایي کمپاینونو په ګډون، پرمختګ محدود کړی دی. زیات شمېر برخه وال ملاحظه کړې چې اوسنې چارواکې د نړیوال اقلیم د بحثونو او د زیات شمېر د اقلیم د تطابق او انعطاف پذیرې مالي وجهو څخه ګوښه کړای شوی دی، په داسې حال کې چې دغه هېواد د اقلیم د بدلون له امله د هغو ۱۰ هېوادونو په شمېر کې راځي کوم چې د اقلیم د بدلون له امله زښت زیانمندونکي هېوادونه دي.[21] افغان برخه وال د مشورو پر مهال په مکرر ډول سره په راتلونکې کې د اوبو د مدیریت په اړه پر اندېښنو باندې اصرار کول.
- برخه والو د بشرپالنې د وضعیت د ښه کولو او یا افغانستان د یو لا ښه باثباته او دوامداره اقتصاد جوړولو په لاره کې د ځای پر ځای کولو لپاره او همدارنګه د مرستو د اغېزمن کولو او ښه کولو لپاره د یو شمېر لارو چارو وړاندیز وکړل. که څه هم هغه محرکونه چې اوسنې وضعیت ته منجر شوې دي زیات سیاسي دي نه اقتصادي او د اقتصاد د بیا ژوندي کولو لپاره په کافي پیمانه په سیاسي پریکړو پورې تړلې دی، په ځانګړې ډول د ډونرانو له خوا د افغانستان د وګړو د ګټو په خاطر اقتصادي پراختیا ترویج کولو له لارې.

**د. ټول شموله حکومتولي او د قانون حاکمیت**

- د یو عام شموله حکومتولي ډول چې وکولي ټول افغانانو لپاره خدمتونو چمتو کړې او د دوی سره د تعامل وکړی د زیات شمېر افغان برخه وال او همدارنګه د نړیوالو برخه والو کلیدی غوښتنې وي. د افغانستان هېواد متنوع، کثیر القومي، څوفرقه يي، څو ژبنېز او څو دودیز ټولنه ده. د حکومتولي په جوړښتونو کې د ټول افغان ملت ټولنې شاملول د افغانستان سیاسي ټولنېز ثبات لپاره زړی دی.
- زیات شمیر افغانان داسې نظریاتو اظهار وکړ چې د اوسنې چارواکو تر حاکمیت لاندې حذفولو او تبعیض آمیز چلند د قومي، ژبنې او جنډر پر بنسټ دی. د عام شمولیت نه شتون په دې پورې اړه لري چې زیات افغانان په سیاسي ژوند کې د بشپړ برخه اخیستلو د حق څخه محروم دي. زیات شمېر مشاهده کړې دي چې د سیاسي تعامل او پر اتباعو باندې هغه زیات محدودیتونه چې دوی نه شي کولي خپلې اندېښنې بیان کړې او په پالیسي جوړونه کې خپل

[21] د نوتر ډیم نړیوال انطباق نوښت (نوتر ډیم ګاین شاخص، ۲۰۲۱)، وروستی خپره شوې نسخه کې. افغانستان د ۱۸۵ هېوادونو څخه په ۱۷۹ پله کې قرار لري. په دې شاخص کې هېوادونه د اقلیم د بدلون له امله د زیانمېدو او د هغه لپاره د چمتو والي له مخې درجه بندي کیږي. په دغه ویب پاڼه کې وګورئ: https://gain.nd.edu/our-work/countryindex/rankings/

نظر ورکړي، چاپېریال د پام وړ په کچه کوچنی شوی دی.[22] دغه مسله په ځانګړې ډول ښځې اغېزمن کړې دي چې دوي د جمهوریت پر مهال او همدارنګه په تېرو دورو کې د افغانستان په مدرن تاریخ کې په سیاسي چارو او حکومتولۍ کې ستره ونډه لوبوله ده.

- غړي هېوادونه، څو اړخیز نهادونه او د ملګرو ملتونو امنیت شورا پر اوسنۍ چارواکو باندې غږ کړي دي چې یو عام شموله حکومتولۍ سیستم رامنځته کړي.[23] زیات شمېر ګاونډي هېوادونه او په سېمه کې نږدې هېوادونه په دې آند وو چې عام شمولیت د یو متوازن، پراخ بنسټه، عام شموله او حساب ورکوونکي با مسؤلیته حکومت رامنځته کول دواړه د بنسټیز او بشري حقونو هنداره ده او همدارنګه په هېواد او په سېمه کې د سولې، ثبات او همغږۍ لپاره کلیدي عناصر ګڼل کیږي.
- اوسنۍ چارواکې دغه مسله داسې تعبیر کړې چې په قدرت کې د شریکولو لپاره، په ځانګړې ډول د تېر حکومت یو شمېر سیاسي مشرانو د بېرته راتګ لپاره غوښتنه ده. همدارنګه دوي وایي چې د دوي حکومت عام شموله دی ځکه چې د افغانستان بیلابیلو قومي ډلو ښکارندوي دی او همدارنګه ځکه چې دوي زیات شمېر مدني خدمتونه ساتلي دي. خو دغه مسله د افغان او نړیوالو برخه والو په آند کافي نه ده.
- په عامه چارو کې د ټول افغانانو د با مفهوم ګډون څواکمنتیا لپاره زیات شمېر لاري شتون لري، د هغو میکانیزمونو په ګډون چې د افغان په دودیز مشورې او ډیالوګ پر بنسټ ولاړ دي.
- اوسنۍ چارواکې اکثراً په ولایتونو کې د سیاسي مشورو یو ډول یې رامنځته کړې دي او همدارنګه په بیلابیلو وزارتونو کې دغه میکانیزمونه هم رامنځته کړې دي چې خلک وکولي شي اوسنۍ چارواکو ته د ځېنو مسایلو په اړوند اطلاع او راپور ورکړي. په داسې حال کې چې د ستاینې وړ دی، دغه میکانیزمونه اوس هم محدود دي، په ځانګړې ډول د افغان ښځو لپاره، او همدارنګه ثبات او شفافیت شتون نه لري.
- د اوسنۍ چارواکو د دایرې څخه بهر، افغان برخه وال هم د عام شمولیت لپاره خپل ګامونه اخیستي دي، د ډیالوګ او په عامه ژوند کې د برخې اخیستنې د دوامداره هڅو له لارې. د ننګونو، د سرچېنو محدودیت او د تحمیل شوي خنډونو با وجود، د افغان مدني ټولنې زیات شمېر فعالین په خپل منځ کې، او همدارنګه په غیررسمي بڼه د اوسنۍ چارواکو سره د پُل په رامنځته کولو غواړي چې د ډیالوګ لپاره چاپېریال رامنځته کړي.
- دغه موجوده لاره کولي شي د افغاني ډیالوګ په دوام سره بشپړ شي چې ټول افغان وګړو د بیلابیلو پسېنې او ژوند کولو د طریقو په ګډون، مشورې او ګډون لپاره لا زیات منظم وسیلې رامنځته کړي. د قضایي او د قانون حاکمیت د سیستمونو بیا رامنځته کول، چې کولي شي متوازن ګډون او د حقونو تعمیلول خوندي کړي، عام شموله حکومتولۍ ته پرمختګ وکړي، په ورته مهال کې اقتصادي ودې او ثبات سره هم مرسته کوي.

**ه. سیاسي استازیتوب او پر سېمه ییز او نړیوالو لومړیتوبونو باندې د هغه اغېزې**

- اوسنۍ چارواکې د خپل سیاسي تایید او دیپلوماتیک استازیتوب لپاره هم په دوه اړخیزه توګه او هم په ملګرو ملتونو کې غوښتنه کړې. دوي ټېنګار کړي دي چې په ملګرو ملتونو په عمومي اسامبلې کې د افغانستان د څوکۍ احرازولو لپاره ټول اړتیاوي پوره کړي دي. د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې د اعتبار کمېټه په ۲۰۲۱ او ۲۰۲۲ کلونو کې افغانستان ته د هغې استازې ته د اعتبار په پام کې نیول وځنډول. اوسنۍ چارواکې او همدارنګه ځېنې برخه وال په ملګرو ملتونو کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت استازو ته د مؤقت ګډون لپاره، چې مخکې اعتبار ورکړ شوي و، خپل نارضایتي څرګند کړي دي.
- د مشورو په لړ کې نړیوال برخه وال د ۲۰۲۳ کال د مې په میاشت کې د افغانستان لپاره د ځانګړو استازو په غونډه کې د عمومي منشي د اظهار شوی موقف پر خوا ودریدل، کوم چې د افغانستان سره د تعامل او د نړیوال ګډ تګلارې

[22] وګورئ: د ساري په ډول، یوناما، "په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت. د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې ۱۵ نېټې څخه راپدیځوا د ۲۰۲۲ کال د جون د میاشتې تر ۱۵ نېټې پوري"، ۲۰۲۲ کال جولاي: یوناما. – "په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت: د ۲۰۲۳ کال د می تر جون میاشتې پوري تازه معلومات،" ۲۰۲۳، جولای.

[23] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پریکړه لیک ۲۵۱۳ (۲۰۲۱): د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پریکړه لېک ۲۵۸۱ (۲۰۲۳)، د افغانستان په اړه د مسکو د فارمت د سلا مشورو اعلامیه. د ۲۰۲۳ د سپتمبر ۲۹ نېټه: د افغانستان په اړه د اروپايي اتحادیي شورا پایلې. د ۲۰۲۱ د سپتمبر ۱۵ نېټه.

رامنځته کولو څخه ملاتړ شوي و خو دا يې هم تاييد کړل چې د اوس مهال لپاره اوسنې چارواکې په رسميت و نه پېژندل شي.

- په نړيوالو سازمانونو کې، د ملګرو ملتونو په ګډون، د افغانستان د هېواد د استازيتوب نشتون، په نهايت کې افغان وګړي ته تاوان ګڼل کيږي او د زيات شمېر سيمه ييز او نړيوال لومړيتوبونو ته د رسيدګۍ په خاطر د دغه هېواد توان محدودوي. د سارې په ډول په دغه کې د هېواد په دننه او بهر کې افغان وګړو ته د هويت سند، سفر او ويزو ته د لاسرسی د څواک محدوديتونو په ګډون، عملی ننګونې شامل دي.
- سياسې خنډ هم، د سوداګري، اتصال، د پولو دواړه خواوو د سرچېنو مديريت په ګډون، سېمه ييز ليوالتيا او اندېښنو باندې، د هغو مسلو د بحث او حل لپاره د لارو چارو په محدودلو سره، ناوړه او منفي اغيزه کړي ده.

## ۳ برخه. وړانديزونه

*د اوس مهال تعامل او مخ په وړاندې لاره*

- په تېرو دوو کلونو کې د نړيوالې ټولنې او اوسنې چارواکو تر منځ، د بشرپالنې مرستو لاسرسي، د بشري حقونو څخه تېري، سېمه ييز اقتصادې همکاری او سوادګري، د مخدره توکو او د تروريزم سره مبارزه مسلو باندې، لوړ تعامل شتون درلود.
- يو عمومې توافق شتون لري چې اوسنې سياسي خنډ او تګلاره، د نړيوالې ټولنې تعامل لپاره – په پراخه پيمانه بېړنۍ- او د غړي هېوادونو او فعالينو په انفرادي نوښت سره، د ناورين لپاره فعاله، د افغان ولس او ټوله سېمې لپاره زياته ناوړه پايلې لري.
- د دې په پايله کې، زيات شمېر برخه وال د نړيوالې ټولنې د لا زيات تعامل ملاتړ کوونکې وو، خو په يوه منسجم، همغږه شوي او رغنده ډول سره، او همدارنګه د ټولو خواوو له طرفه د ژمنو او پايلو په روښانه پوهاوي سره. دا د افغانانو اړتياو ته د رسيدګۍ په خاطر به ضروري وې چې د افغانانو تر منځ د ديالوګ لپاره فضا خلاص، او د بشر پالنې پر فعالينو باندې فشار کم شي چې اوس مهال د تعامل مخکښان دي.
- اوس مهال په تعامل کې کوم کلېدې عنصر چې شتون نه لري هغه د افغانانو تر منځ ديالوګ دی. دغه تشې ته رسيدګې، کولي شي د ملي روغې جوړې لپاره لاره هوار کړې، کورنې مشروعيت، د قانون حاکميت او اساسي نظم رامنځته کړي چې دغه فکتورونه په نړيوال سيستم کې د افغانستان د دولت د حکومت په منلو کې، د يو بشپړ غړي په توګه، ډير مهم دي.
- يو لړ تدابېر شتون لري چې کيداي شي په بېړه سره پلې شي تر څو د اوسنې اقتصادي او بشري ننګونو لپاره، لا زيات اغيزمن او دوامداره غبرګون رامنځته کړي چې د افغان وګړو اړتياوو ته او همدارنګه د سېمې او نړيوالې ټولنې ګټو ته ښه رسيدګې وشي.
- په دې خاطر چې سياسې مسايل مخ پر وړاند بيول شي يوه رغنده پروسې ته اړتيا شته چې په هغه کې د ټولو خواوو لپاره روښانه شرايط او تمې شتون ولرې او د تعامل د پر مخ بيولو لپاره د همکاری ميکانيزمونه شتون ولري ترڅو لا زياد همغږي ډاډمن شي.
- د دغې پروسې موخه بايد روښانه او د افغانستان دولت د خپل ځان او ګاونډيو سره په سوله کې وي او په نړيوالې ټولنه کې په بشپړ دول سره مدغم وي.

**يو شمير توصېې وړانديز کيږی:**

۱. يو شمير وړانديز شوي تدبيرونه چې وکولي شي په بيړه سره تر لاس لاندې ونيول شي او د هغه موخه دا وي چې افغان ولس بنسټيز اړتياوو ته رسيدګې وکړي او د رغنده تعامل له لاری باور پياوړي کړي.

۲. د نړيوال د پام لپاره غبر وشی چې پر هغو مسايلو باندي همکاری وکړي چې پر سيمه ييز او نړيوال امنيت او ثبات باندي ښه اغيزه کوي.

۳. طرح شوي سیاسي تعامل لپاره د یو لار نخښې وړاندیز چې افغانستان په بشپړ ډول سره د نړیوالې ټولنې سره مدغم شې او د افغانستان د دولت او نړیوال ژمنو او مسولیتونو سره همنوا وي او همدارنګه په دننه کې د عام شمولیت د یوي کچې سره چې ده راتلونکي سولې او ثبات لپاره مرسته وکړي.
۴. د داسې میکانیزمونو او فارمتونو رامنځته کول چې د پورته یاد شوي ټکو همغږي او پلې کول ډاډمن کړي.

### ۱. د افغان وګړو بیړنیو اړتیاو ته د رسېدګې له لارې د باور رامنځته کول

- د وګړو بیړنې اړتیاوې غوښتنه کوي چې مرستې په ټولیز ډول سره د سیاسي محریکونو څخه جلا او د یو لا زیات با ثباته مرستو اړخ ته تغییر وکړي، په ځانګړي ډول په کلیدی سکتورونو کې لکه د خوړو امنیت، معیشت او روغتیا.
- دا به ډیره ضروري وي چې مرستې د لنډ مهالي تمځای هڅو څخه لا زیات با ثباته طریقو ته واړول شي چې د مرستو په همغږۍ او ټوټه کیدو خنډونو څخه مخنیوي وشي. د کارول شوي امانتي وجهو تر منځ زیات پیوستون ډاډمن کول (د ساری په ډول د افغانستان لپاره د ځانګړي امانتي وجهې صندوق او د افغانستان د انعطاف پذیري امانتی وجهې صندوق) به همغږي تسهیل کړي د میزان او رسولو لپاره د پلان جوړونې ته اجازه ورکوي او د دریم خوا د نظارت د ترتیباتو وړاندیز چې د مرستو د مسیر بدلوول او نورو ګواښونو پر واړندي، د خوندیتوب سره مرسته کوي.
- د نه تبعیض او عام شمولیت د اوصولو د رعایتولو له لارې، د ښځو د حقونو درناوی او د دوي د با مفهوم ګډون لپاره هڅې، او د ټولو افغانانو د بنسټیز حقونو او آزادیګانو ته درناوی باید ډاډمن او پرمخ بیول شي.
- د دغه لومړیتوبونو لپاره د همغږي په ګډون، لا زیات تعامل کولي شي د لا ښو اړیکو سره مرسته وکړي د فعال مراوداتو له لارې متقابل پوهاوي ښه کول، او د افغان او نړیوال برخوالو ترمنځ او د خپل افغانانو ترمنځ د اعتماد فضا رامنځته کولو سره مرسته کولي شي.
- لومړیتوبونه کیداي شي په لاندې ډګرونو کې وي

الف) **نړیوال مرستې پراخول چې کولي شي د افغان وګړو بنسټیز اړتیاو سره مرسته وکړي، د تخنیکی خدمتونو د چمتوکولو** په ګډون چې د افغان اړوندو نهادونو ظرفیتونه ښه کړي تر څو وکولي شي افغان وګړو ته لا اغیزمن خدمتونه وارندي کړي.

د خوړو امنیت او د کرهنیز معیشت ملاتړ، د اوسنې چارواکو د مخدره توکو پر وړاندي د مبارزې روان کمپاین؛ چاپېریالي خوندیتوب او د اوبو مدیریت؛ د روغتیا سکتور، د معلولو کسانو او هغه وګړي چې د جګړو څخه اغیزمن شوي، د مخدره توکو روږدو کسانو علاج او ماین پاکې په ګډون. مرستې باید زیانمن شوي ډلې، ښځې او نجونو ته لومړیتوب ورکړي. د هغو زیر بنایي یو شمیر پروژو کار چې د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې مخکې کار پیل شوی وو او بشپړیدو ته نږدې وو تسهیل شې، په ځانګړي ډول هغه پروژې چې د افغانانو پر رفاهې ژوند باندي مستقیمه اغیزه لري او هغه پروژې که چیري بشپړ نشې جدي چاپېریالي، امنیتي او یا بشري ګواښونه رامنځته کوي.

ب) **د زیات شمېر اقتصادي خنډونو د حلولو او د اقتصاد بیا ژوندي کولو او سمون لپاره د اقتصادي ډیالوګ رامنځته کول.** په دې کې پر بانکداري سکتور باندي د موجوده تعزیرات د رژیم له امله د ناوړ اغیزو د کمولو لپاره د لارو چارو د تشخیصولو په ګډون، د مالي سمونونو ملاتړ، د اقتصادي ډیالوګ ځواکمن کول او په نهایت کې د اوسنې چارواکو د مالي نهادونو سره همغږي شامل دي.

نړیوال برخه وال باید د افغانستان بانک د بیارغونې لپاره ملاتړ چمتو کړي چې په هغه کې د مالي حکومتولي، شفافیت او حساب ورکوونې ګامونه اوسنې چارواکې واخلي چې د یو شمېر نړیوال مالي طرزالعملونو سره ښه تطابق ولري.

ممکنه ده اقتصادي ډیالوګ پر شخصي پانګونې او بانکداري لېږدونې محدودیتونو باندي مثبته اغیزه ولري، خو د افغانستان پر اقتصاد باندي د تعزیراتو له امله سوړونکې غیررسمې اغیزې به په بشپړ ډول سره حل نه کړي. دغه مسایل د اوسنې حکومتولي سیستم او د ښځو او نجونو باندې د محدودیتونو شهرتي مسلو د ګواښونو او نه وړاند

وينې وړ اندېښنو پر بنسټ دی، نو ځکه يوازې د اوسنۍ چارواکو له خوا په پالیسیو کې د ستر بدلونونو څخه وروسته به لېرې شي.

په ډیالوګ کې پرمختګ او اقتصادي مسلو کې سمونونه باید د دې لامل شي چې په سویزرلند کې د افغان وګړو وجهي صندوق، د خپل قوانینو مطابق، د بهرني اسعارو د بدلون او قیمت د ثبات د موخو په ګډون، پانګه آزاد کړي. همدارنګه ممکنه ده دغه مسله، د اوسنۍ نغدو پیسو لېږد پر ځای، نورو بدیلونو ته د تدریجي انتقال پروسه هم ځواکمن کړي.

**ج) د افغانستان او نړۍ تر منځ د عادي ترانزیت، سوداګری او د اتصال نور وسایل د یوې برخې بیا احیاء ممکنول.** په دغه کې د هوایي ډګر د خوندیتوب او په افغانستان کې د اوسنۍ محدود شمېر انتقالاتو د فعالیت ظرفیت ښه کولو لپاره تدابیر په ګډون، د کابل نړیوال هوايي ډګر کې د عادي انتقالاتو د فعالیت په وړاندي د خنډونو کمول شامل دي.

د هېواد په دننه او بهر کې د افغانانو لپاره عادي اداري خدمتونه باید بیا احیاء شي، او د ویزو او پاسپورټونو د دوامداره صادرولو ډاډمن کولو په خاطر ملاتړ وغوښتل شي، چې کیداي شي یوه برخه يې پر نړیوال چاپولو او نور تسهیل کوونکي او همغږي تدبیرونو باندې متکی وي.

**د) داسي مرسته کوونکي او هڅوونکي فعالیتونه کوم چې افغانانو سره مرسته وکړي تر څو خپل سیاسي، اقتصادي، دودیز او ټولنیز حقونه تعمیل کړي.** په دې کې باید د مدنې ټولنې او رسنیو لپاره د ملاتړ تدابیر شامل وي چې کولی شي سیاسي او مدنې فضاء پراخ کړي، د دودونو د خوندیتوب اړوند نوښتونو ملاتړ، او د عدالت او مصالحې لپاره د قرباني محوره تګلارو د ملاتړ په ګډون. په دې کې دا ټکي شامل کیداي شي:

د ښځو او نجونو لپاره ځانګړي ملاتړ، د ساري په ډول د روزنیز فرصتونو لپاره ملاتړ، د آنلاین زده کړو، کارموندنې، واړه اقتصادي فعالیتونه، د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي څخه مخنیوي، او د رواني ملاتړ چمتو کولو په ګډون.

د افغانستان څخه بهر افغان ښځو او نجونو او افغان زیامنیدونکو ډلو او افرادو ته چې د مهاجرت او خوندیتوب غوښتونکي دي د پرله پسې با ثباتو مرستو چمتو کول.

د اوسنۍ چارواکو سره د بشري حقونو د مکلفیتونو په اړه دوامداره ډیالوګ، او د راپور شوي تاوتریخوالي قضیو په ګډون، د بشري حقونو په اړوند د پوهاوي زیاتول او د اړوند کنوانسیون د نهادونو سره د تعامل تسهیل کول.

## ۲. په امنیتي سېمه ییز او سیاسي کلیدي مسالو کې دوامداره همکاری

- نړیوال برخه وال او د ملګرو ملتونو موسسې په نړیواله کچه خپلې امیدونه اظهار کړي چې د افغانستان دولت باید سېمه ییز او نړیوال ثبات ته ګواښونه مدیریت، کم او مخنیوي کړي. په مشخص ډول سره په اندېښنو کې د افغانستان د خاروي په کارولو سره بل هېواد ته ګواښ او یا پر هغه برید، د تروریستي فعالیتونو پلانول او مالي تمویل، او د ناقانونه مخدره توکو تولید، خرڅول او قاچاق شامل دي.[24]
- همدارنګه د افغانستان دولت او اوسنۍ چارواکې څو اړخیز او دوه اړخیز ژمنې ترسره کړي دي، چې دوي به اجازه نه ورکوي چې د افغانستان خاوره د نورو هیوادونو د امنیت ګواښولو لپاره وکارول شي، او د سېمه ییز موضوعګانو او د مخدره توکو سره د مبارزې په اړوند ژمني ترسره کړي دي.[25]

[24] وګورئ: د امنیت شورا پریکړه لیک ۲۵۱۳ (۲۰۲۳)، پریکړه لیک ۲۵۹۳ (۲۰۲۱)، پریکړه لیک ۲۶۱۵ (۲۰۲۱).

[25] وګورئ: د ترهګري په اړه، د ۲۰۲۳ کال د مې د میاشتې په ۶ نېټه په اسلام آباد، پاکستان کې د چین – افغانستان – پاکستان د بهرنیو چارو وزیرانو د پنځم دوری خبري اتري ګډ بیان. په ۲۰۲۰ کې، دامریکا د متحده ایالاتو سره دوه اړخیزه تړون کې طالبانو د ورته تضمینونو ژمنه وکړه چې په افغانستان کې د تروریستي فعالیتونو د ملاتړ لپاره د افغانستان د خاوري کارول مخ ونیسي. وګورئ: "د امریکا متحده ایالاتو او طالبانو تر منځ افغانستان ته د سولې راویستلو تړون" (۲۰۲۰)، د افغانستان دولت هم د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې د پالېسیو او د اوبو د حقونو او نورو سېمه ییزو برخو کې د ګاونډیو هېوادونو سره دوه اړخیز تړونونه لاس لیک کړي دي.

- د دغو ننګونو لپاره د اغېزمن رسيدګۍ په خاطر په دوه اړخيز او څو اړخيزو بنسټونو کې د اوسنۍ چارواکې او نړيوال برخه والو تر منځ د همغږۍ او همکارۍ غوښتنه کوي. نړيواله ټولنه بايد د اوسنۍ چارواکو د عمل په مقابل کې د مرستې او ملاتړ په بڼه بالمقابل عمل وکړي چې د نړيوال بشرى حقونو قانون، معاهدو او شرايطو سره مطابقت ولري.
- همدارنګه يو شمېر نور سېمه ييز او نړيوال ګټې شته، چې يو شمېر يې په بالقوه ډول سره پر امنيت او ثبات باندې اغيزه لري، چې کيداي شي د لا زيات همغږۍ، متمرکز توجه او تعامل له لارې په ښه توګه پر مخ بيول کيداى شي. د لومړيتوبونو په ډګر کې لاندې ټکي شامل دي:

الف) **د دوه اړخيز او څو اړخيز امنيتي همکارۍ ملاتړ،** د سېمه ييز امنيت او ثبات د کليدي مسلو په اړوند د رسيدګۍ په خاطر د مرستو چمتو کولو په ګډون. نورو هېوادونو ته په افغانستان کې د ځای پر ځای شوو او يا عمليات کوونکو افرادو او يا ډلو له خوا ګواښ ته رسيدګۍ کول د کافي ظرفيت او سرچېنې او د څو اړخيزو برخه والو د اقدام غوښتنه به وکړي.
ب) **د مخدره توکو په وړاندې د نړيوال هڅو سره همکارى کول،** په پالېسي او قانون په ډګر کې، د مخدره توکو د له منځه وړلو لپاره د اوسنۍ هوډ د ساتلو او نور ګامونو د اخيستلو په ګډون.
ج) د **نړيوالو پولو پياوړې کول، د پولو د اغېزمن کنټرول په ګډون** او د سفر د اسنادو او د هويت د اسنادو د صادرولو د کنټرول، څرنګه چې د امنيت شورا په ۱۶۲۴ (۲۰۰۵) او ۲۱۷۸ (۲۰۱۴) ګڼو پريکړو ليکونو کې د تروريزيم او د انسان او مخدره توکو د قاچاق سره د مبارزې په خاطر ټېنګار شوی دی.
د) **د نړيوال او سېمه ييز لومړيتوبونو د پر مخ بيولو لپاره د نړيوال همکارۍ او مرستې پراخې شي،** د اقليم د تطابق او غبرګون د عرصو په ګډون، د پولو پر دواړه خواووې د طبيعې سرچينو مديريت؛ د مخدره توکو په وړاندې مبارزه، نړيوال روغتيايې امنيت او فراملي ګټو او مقرراتو د نورو ډګرونو په ګډون.
هـ) **د ملګرو ملتونو د ۱۹۸۸ تعزيراتو د نوم لړ په اړوند د احکامو باندې بيا کتنه او تازه کول** د ملګرو ملتونو د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) پريکړه ليک او د تېرو توصيو مطابق.[26] دغه تازه کول پر سفرونو باندې د بنديز رعايتول او ترتيبول لا ښه تسهيلوي او د تعزيراتو رژيم د اوسنۍ حقايقو سره لا زيات اړوند کوي.
و) **د افغانستان په دننه کې په تدريـج سره ديپلوماتيک تعامل له سره پيل شي** تر څو د افغان برخه والو تر منځ دوامداره ډيالوګ لا زيات تسهيل شي چې له امله يې د بشري مرستو وړاندې کول او د انکشافي مرستو پلي کول په اغيزمنه توګه ترسره شي، او همدارنګه نړيوال برخه وال کولي شي د ګواښونو او ننګوونو او په ډګر کې حقايق لا ښه وپېژني.

### ۳. په نړيوال سيستم کې د افغانستان د حکومت د ادغام لپاره لار نخشه

- د پورته ياد شوي ګامونو سره سم نړيواله ټولنه او افغان برخه وال بايد يو ښه منسجم سياسي تعامل پروسه پيل کړي. د نړيوال منسجم او يو موټی تعامل بايد د اجراتو پر بنسټ، د لار نخشې له لارې تعقيب شي.
- په لاندې کې دغه لار نخشي په دې ډول ترتيب شوي: (الف) د افغانستان د دولت نړيوال مکلفيتونه د وړانديز شوي معيارونو سره چې د هغو ترسره کولو لپاره د پرمختګ ښکارندوي وي، (ب) د افغانانو تر منځ د سياسي پروسي لپاره غبر چې د يو عام شموله اساسې قانون جوړونې رامنځته کړي. په دغو دواړو عناصرو کې پرمختګ د (ج) په نهايت کې د افغانستان د دولت سره د نړيوالې ټولنې د اړيکو عادې کيدل، سبب ګرځي.

---

په دغو تړونونو کې د ۱۹۶۱ د مخدره توکو په اړه واحد کنوانسيون لکه څنګه چې د ۱۹۷۲ پروتوکول په ذريعه تعديل شوی دی، د ۱۹۷۱ د روان بدلولو موادو کنوانسيون، د ۱۹۸۸ د مخدره توکو او روان بدلولو موادو د غيرقانونې قاچاق په وړاندې د ملګرو ملتونو کنوانسيون، او د ۱۹۷۳ د افغانستان – ايران د هلمند سيند اوبو تړون شامل دی.

[26] وګورئ: د ۲۶۶۵ (۲۰۲۲) پريکړه ليک سره د تحليلي ملاتړ او د بنديزونو د څارنې د ډلې ۱۴ وړاندې شوي راپور چې طالبانو او نور اړوندو اشخاصو او ادارو د افغانستان سولې، ثبات او امنيت ته ګواښ جوړوي.S/2023/370

### الف. د افغانستان د حکومت مکلفیتونه

- د ملګرو ملتونو د میثاق بنسټیز اصولونه چې د هغه په سریزه کې لیکل شوي دې داسې راغلي دي: " راتلونکي نسلونه د جګړې له شر څخه وژغورل شي،" "د بنسټیزو بشري حقونو، د انسان په کرامت او ارزښت، د نارینه او ښځینه په مساوي حقونو باندې د باور بیا تایید کول" او " د داسې شرایطو رامینځته کول چې له مخې یې د تړونونو او نورو نړیوالو قانون سرچینو څخه رامینځته شوي مکلفیتونو ته عدالت او درناوی خوندي کیدی شي"[27]
- اوسنې چارواکې غوښتلي دې چې دوي د افغانستان د دولت د اداره کوونکې ځواک په ډول وپېژندل شي. په داسې ترسره کولو سره نړیوالو بحثونو کې خپل ژمنې او مکلفیتونه منې او په عمل کې د پالیسې او قانون جوړونې له لارې د رعایت لپاره د ښه باور د تدبیرونو لامل کیږي. دغه نړیوال مکلفیتونه د افغانستان د دولت څخه د نورو ژمنو او تمو سره یو ځای د دولت د مکلفیتونو د پیل کولو یوه برخه ګڼل کیږي او هغه ته مشروعیت ورکول کیږي څرنګه چې نړیواله ټولنه کې پر نورو ټولو دولتونو باندې پلي کیږي.
- د افغانستان هېواد یو شمېر کنوانسیونونو ته ژمن دی چې په هغه کې د ټولو اتباعو سره یو سان چلند د دوي د جنسیت، قومیت، هویت او سیاسي افکارو پرته؛ ټول سیاسي، برخه اخیستل، بیان او کارموندنې او روزنې ته د یو شان فرصتونو برابرول؛ روغتیایي پاملرنو او نورو بنسټیزو خدمتونو ته مساوی لاسرسي؛ د شکنجې او بدنې زیان رسولو څخه خلاص؛ سیاسي اظهار، ټولېدنه، مذهبي کړنو آزادیګانې شامل دي. د دغو کنوانسیونونو مکلفیتونه د اتباعو آزاد خوځښت هم خوندي کوي چې په هغه کې د هېواد څخه بهر ته آزادانه سفر کول هم شامل دی.
- د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې راپدیخوا د ښځو او نجونو په وړاندي د نافذ شویو ځانګړو پالیسیو په پام کې لرلو سره، دا مهمه ده چې د بشري حقونو د نړیوالي اعلامېې د یو لاس لیک کوونکي په صفت او همدارنګه (CEDAW)، (ICCPR)، (ICESCR)، د یو خوا په ډول د افغانستان دولت پر ژمنه او مکلفیتونو باندې ټینګار وشي. د (CEDAW)، (ICCPR)، (ICESCR)، او نورو حقوقي اسنادو په ګډون، تر لاندي مکلفیتونه د ښځو او نجونو په ګډون چې باید د نارینوو سره په مساوي ډول او په ټولو کچو کې د زده کړې، کار موندنې او دندي، د حکومت په پالیسي جوړولو کې ګډون او د عامه ژوند نوري ببلګې، د حقونو څخه برخمن کیدل ډاډمن کړي.[28] نور کلیدي مکلفیتونه د ساري په ډول د نړیوال سازمانونو سره د ښځو د کار کولو حق او د غیر دولتي سازمانو او اتحادیو کې د برخې اخېستنې حق ته ارجاع کیږي.[29]
- د کنوانسیونونو ژمنې په پالیسي او قانون کې د دغو حقونو د خوندېتوب غوښتنه کوي او د داسې سازمانانو رامنځته کول او د قانون حاکمیت عادی روال چې د دوي تنفیذ ممکنه وي. داسې تدابېر باید تر لاسه لاندې ونیول شي چې د نړیوال کنوانسیونونو د ژمنو پابند شي؛ د بشري حقونو د تېرې څخه ښه مخنیوي او ترسره کوونکي سره حساب وشي.[30]
- که چېرې اوسنې چارواکې تایید شي، دا به د افغانستان دولت ته دا توان ورکړي چې د نړیوال قانون تر لاندي د کنوانسیونو مکلفیتونه او ژمنې تر سره کړي، چې د دغه لارنخښې پر بنسټ یو کلیدی ګام دی او دا به د عادی کولو او تاییدولو د هر ډول مخ په وړاندي پرمختګ لپاره اړین وي. پرمختګ د لاندنې کلیدي معیارونو د پلي کولو او د پیمایش وړ ګامونو په اخیستلو سره به مشخص شي:

۱) د افغانستان له د نړیوال قانون تر لاندي د کنوانسیونونو مکلفیتونو او ژمنو ترسره کول چې دغه کار د ښځو او نجونو د ثانوي زده کړو او لوړو زده کړو، د دوي د کار موندنو فرصتونو او د مسلک ټاکل، د ملګرو

---

[27] د ملګرو ملتونو د میثاق سریزه. دا اصول د بشري حقونو په نړیوال اعلامیه کې نور پراخ شوي دي چې د عمومي اسمبلې له خوا د ۱۹۴۸ کال د دسمبر په میاشت کې د ۱۸۳ عمومې ناسته په ترڅ کې تصویب شو دی. (A/RES/217(III)، د دې ډیری احکام د دودیز نړیوال قانون برخه ګڼل کیږي، او د تړون په نور الزامې ژمنو کې تکرار شوي دي.

[28] د (CEDAW)، ۷، ۸، ۱۰، او ۱۱ مادو، (CEDAW)، ۱۰ ماده څرګند کوي چې د ښځو او نارینو لپاره، په ګډون، "د ښوونځی څخه مخکې، عمومې، تخنیکي، مسلکې و لوړ تخنېکي زده کړې، همدارنګه د حرفوي زده کړو په ټولو ډولونو کې" او مساوي نصاب، او آزموینو کې باید ورته شرایط شتو ولري چې زده کړې ته لاسرسي ولري. د نړیوال قانون د نورو سریېره، دا اصول (ICESCR)، په ۳، ۷، او ۱۳ مادو کې؛ د ICCPR، ۳ او ۲۶ مادو کې؛ د CRC، په ۲۴ ماده کې هم تایید شوي دي.

[29] د CEDAW، ۷ او ۸ مادې.

[30] A/HRC/54/21 ،30 ۹۵

ملتونو او انجو ګانو سره د کار کوولو په ګډون؛ د خوځښت د غیر مشروط آزادي او بنسټیزو تسهیلاتو او عامه ځایونو ته د لاسرسی باندي وضعه شوي محدودیتونه په بېړه سره لېري کولو له لاري ممکن دی.
۲) د افغانستان د دولت له خوا د کنوانسیونونو د ژمنو د ښه رعایتولو لپاره با مفهومه ګامونو اخیستل، په ځانګړي ډول د مساوي چلند او لاسرسي په اړوند د دغه برخې په ګامونو کې لاندې ټکي شامل به وي:
الف) د اوسنې قوانین او پالیسیګانو باندې بیا کتنه تر څو ډاډ حاصل شي چې دغه حقوقي سندونه د افغانستان د هېواد له خوا د لاسلیک شوي کنوانسیونونو د ژمنو لاندي د کلیدي معیارونو او دندو سره مطابقت ولري؛
ب) ډاډ تر لاسه شې چې په قوانینو کې د بشري کلیدي حقونه په قوانین کې ځای شوي او حقوقي خوندیتوب ولري او همدارنګه د دغه حقونو خوندیتوب او تنفیذ لپاره عمومي تدوین شوي د قانون حاکمیت روندونه شتون ولري.
ج) ډاډ تر لاسه شي چې په ټولو وزارتونو کې د بشپړ حقونو څخه د تېری د تحقیق د ترسره کولو لپاره نهادونه او میکانیزمونه شتون ولري او د حساب ورکوونې مناسب تدبیرونو سره تړلې وي او د ټولو افغانانو لپاره د خساري د جبران لپاره د لاسرسي امکانات او لاري چاري موجود وي.
۳) د عام شمول حکومتولي بیا تنفیذ او رامنځته کول چې په ټول هېواد کې د ټول قشرونو لپاره، د افغان ښځو نارینه او ځوانانو په ګډون، د لاسرسي وړ وي او خدمتونه چمتو کړي، او همدارنګه د پریکړو ترسره کولو پروسه کې ګډون، د تبعیض نشتون او په حکومتولي کې د وړاندوینې وړتیا ترویج کړي.

## ب. د یو لازیات پراخ بنسټه حکومت د تر لاسه کولو په موخه د بین الافغاني بحثونو تعیقب

- د افغانستان د دولت د ژمنو په ډګر کې د پرمختګ برسېره، د افغانانو د ملي دیالوګ په اړوند د ګامونو اخیستلو ته اړتیا شته چې عام شموله حکومتولي رامنځته شي او پس له ۴۵ کلونو وسله والې شخړې څخه ثبات، سوله، ټولنیز، دودیز، او اقتصادي پراختیا ډاډمن شي. دغه مسله د افغان برخه والو، ملګرو ملتونو امنیت شورا، سیمه ییز او نړیوال فارموتونو او د غړې هېوادونو له خوا غوښتل شوي دې، او دا چې په تېر وخت کې طالبان هم ورته ژمن وو.[31]
- یو داسې ملي سیاسي دیالوګ چې وکولي شي د ټولو افغان برخه والو نظریات منعکس کړي باید د قانون پر بنسټ د وړاندوېنې وړ د قانون حاکمیت د یو عام شموله اساسي قانون نظم چې د اتباعو حقونه په کې کې تصریح شوي وي او د یو وړاندوېنې وړ حقوقي ډګر ایجاد کړي، د رامنځته کولو په ګډون.
- د دغه پروسې د چمتو کولو لپاره د یو شمېر ګامونو د اخیستلو اړتیا لري. باید افغان دودیز نهادونه او میکانیزمونه د دغه پروسې د لارښود او چوکاټبندي لپاره په ګوته شي. باید ځانګړي ستراتیژیګانې په پام کې و نیول شي چې په ټوله پروسه کې د افغان ښځو با مفهومه ګډون ډاډمن شي.
- افغان برخه وال د اوسنې چارواکو په ګډون، باید ژمن شي چې د افغانستان د راتلونکي ډیالوګ په خاطر د فضاء د سپړنې لپاره تعامل ولري. د افغانستان په دننه او بهر کې د تیاری ناستې کولي شي د پروسې د ډګر او تعیین لپاره مُمِد واقع شي نړیواله ټولنه باید د افغان برخه وال ملاتړ وکړي، چې په دې ډول دیالوګ کې عام شمولیت او استازي ګډون ډاډمن کړي.

[31] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۶۸۱ (۲۰۲۳)، پریکړه لیک "د هېواد سیاسي راتلونکې او پراختیا د لاري په اړه د هر اړخیز او ټول شموله، د افغانانو په مشري مالکیت د هوډ له اصولو خپل ملاتړ څرګند کړ". طالبانو هم د "افغانستان د سولې راوستلو لپاره د امریکا متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د ۲۰۲۰ کال تړون کې د "د بین الافغاني ډیالوګ او خبرو اترو" له لاري ژمنه وکړه. دا د پخوانې رژیم سره د خبرو اترو په توګه نه دې مشخص شوي – په تړون کې "د افغان اړخونو" سره خبري اتري ټاکل شوي تر څو د جوړجاړی څخه وروسته د نوي افغان اسلامي حکومت د جوړولو پریکړه وکړي. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا دې دوه اړخیزه ژمنې په خپل ۲۵۱۳ (۲۰۲۱) پریکړه لیک کې منعکس کړي چې "ټولې خواوي دې ته وهڅوي چې د ښځو په بشپړ مساوي او با مفهومه ګډون" او " د قانون حاکمیت ته په پام کې نیولو سره" د یو ټول شموله، خبرو اترو سیاسي حل غواړي. په دې وروستیو کې، د افغانستان په اړه د مسکو فارمت د سلا مشورو اعلامیه چې د ۲۰۲۳ د سپتمبر په ۲۹ نېټه په کازان کې تر سره شو د پروسي د بشپړولو لپاره د بدیل توکمیزو سیاسي ډلو د استازو سره د یو عملي، پایلې لرونکي ډیالوګ د جوړولو غوښتنه وکړه تر څو سوله ییز حل او په افغانستان کې یو متوازن، پراخ بنسټه، ټول شموله، حساب ورکوونکي او مسؤل حکومت رامنځته شي."

- دغه ډیالوګ باید په دې لټه کې شي د یو عام شموله اساسي قانون جوړونکې پروسې عناصر تعیین کړي. په پروسه کې د ټولو شاملو نهادونو ترکیب، د سارې په ډول د اساسې قانون د جرګې په ترکیب کې، باید افغانستان د ټولو وګړو او ټولنو استازي منعکس کړي.
- یو ملي سیاسي ډیالوګ په دغه پروسه کې مرسته وکړي چې مرسته وکړي چې په څه ډول ټول ملت او د هغه اتباع – چې ټوله د څو لسیزو د وسله واله جګړې قربانیان دي – کولی شي یو بل سره سوله وکړي او د یو امن، با ثباته، پر مخ تللي او د یو عام شمول افغانستان لپاره ګډ اهداف ترلاسه کړي.
- په هېواد کې دننه او بهر د افغانانو تر منځ اوسنی سیاسي چاپېریال په پام کې لرولو سره، دا ممکنه ده چې وړاندیز شوی ګامونه د نړیوال برخه والو له خوا د کوټلي ملاتړ غوښتنه وکړي، خو دا ډول یوه پروسه هغه مهال به بریالی شي چې د افغان برخه والو سیاسي ارادې، ژمنې او خپلواکۍ پر بنسټ وي.

**ج. د افغانستان د حکومت استازیتوب او عادي وضعیت رامنځته کول**

- د افغانستان د دولت د مکلفیتونو په اړوند څرنګه چې پورته کې ویل شوي دي ښه او د پیمایش وړ پرمختګ او همدارنګه د عام شمولو حکومتولي او د افغانانو تر منځ د ډیالوګ په اړوند دا شونې کوي چې په پای کې د بشپړ عادی کولو او افغانستان په نړیوال سیستم کې مدغم کولو لپاره مخ پر وړاندې خوځښت ممکنه وي.
- په نړیوال نهادونو کې د افغانستان هېواد بشپړ ادغام، په ځینې کلیدي مالي نهادونو کې غړیتوب، د ملګرو ملتونو په عمومي اسمبلي او نورو اړوندو نهادونو کې د افغانستان د استازیتوب بشپړ اعتبار هم شامل دی.[32]
- عادی کول به، په عادي کچو او ډولونو کې د انکشافي مرستو، د اړوند زېربناو، تخنیکي ډیالوګ او همکاری لپاره د نړیوال پراخه مرسته ممکنه کړي، که چېرې اوسنې چارواکو له ځانه دا وړتیا وښیې چې د افغانستان ژمنې خوندي کړي، په عام شمول ډول سره حکومت اداره کړي، نړیواله ټولنه باید په چټکۍ سره د افغانستان کنګل شوی پانګې د اوسنې خنډ د لېرې کولو په خاطر ګامونه واخلي، د بیلابیلو تعزیراتو رژیم باندې بیا کتنه وکړي، د یوې دایمې اقتصاد حلولو لپاره ګامونه واخلي، د سارې په ډول د افغانستان بانک باندې بیا پانګونه وکړي.

**۴. د تعامل د ملاتړ لپاره میکانیزمونه**

- د دغه راپور د توصیو تعمیل، همغږی او همکاري لپاره وقف شوي ظرفیت او پلاتفورمونو غوښتنه به وکړي چې د لا زیات رغنده تعامل، او په لار کې پراته خنډونو ته رسیدګې په خاطر آسانتیا او مرسته چمتو شي.
- په مشورو کې برخه وال د ملګرو ملتونو څخه د قوي ملاتړ غوښتنه وکړه چې په همغږي کې ستره ونډه ولوبوي او په پورته کې یاد شوي د منسجم او رغنده تعامل پروسو کې مخکښ ونډه ولوبوي. هغه میکانیزمونه چې په دغه سند کې وړاندیز شوي دي د ملګرو ملتونو له خوا به همغږي کیږي او په ورته حال کې د غړو هېوادونو او نورو نړیوالو سازمانونو پر فعاله مرسته او پیاوړي ملاتړ باندې متکې دي.
- دغه میکانیزمونه به د اوسنې سېمه ییز فارمتونو او نړیوال همغږي پلاتفورمونو سره له نږدې او څنګ پر څنګ کار کوي، چې هغو ننګونو ته د رسیدګې لپاره هر اړخېزه ونډه لوبوي کوم چې افغانستان ورسره مخ دی.

[32] چېرې چې د ملګرو ملتونو په عمومي اسمبله کې د یو غړي هېواد استازیتوب لپاره سیالي ادعاګانې وي، یا کله چې د لږ دوره د انتقالي حکومت مشرعیت تر پوښتنې لاندې راوړي، دا خنډ په عادی ډول د ملګرو ملتونو عمومي اسمبله، امنیت شورا او یا د دواړو د مسلې په اړه د مثبت بیان په واسطه حل کیږي. د کانګو د قضیو په اړه تېرو تجربو لپاره (۱۹۶۰)؛ کمبودیا (۱۹۷۹)؛ افغانستان (۱۹۹۶) او نور، وګورئ: د ملګرو ملتونو د قضایي بهېر د کال ژورنال، ۱۹۹۷ (د ملګرو ملتونو خپروني، نیویارک: ۲۰۰۴)، ۶۸، ۴۶۵ مخونو. دا هم وګورئ: (۲۰۰۹)، A/RES/63/301، په هندوراس کې وضعیت: د دیموکراسي ختمیدل/پرځېدل. د ملګرو ملتونو مطبوعات، "لیبیا: له ډیرو جنجالونو وروسته، عمومي اسمبله د ۶۶ دورې لپاره د لیبیا د هېواد استازې په توګه د دغه هېواد ملي انتقالي شورا و منل او غوره کړ.، د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر ۱۶ نېټه. په دې صورت کې په داسې حال کې چې د ملګرو ملتونو عمومي اسمبلې او یا امنیت شورا په خوا د اسلامي امارت په پېژنده کې د رد بیانونه صادر کړي دي، احتمالاً مثبت بدلون ته اړتیا لیدل کیږي. د امنیت شورا پریکړه لیک ۲۵۱۳ (۲۰۲۰) وګورئ: د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلې پریکړه لیک ۹۰/۷۵، د افغانستان وضعیت(۷۵ دوره: ۲۰۲۰ تر ۲۰۲۱)"

- دغه میکانیزمونه باید د هغو تدبیرونو په پلې کولو کې مرسته او ملاتړ وکړي چې د افغان وګړو بېړنۍ اړتیاوو ته رسېدګې کوي؛ د افغانانو تر منځ د پراخ بنسټه سیاسي ډیالوګ چمتو کول او تسهیلول پر مخ بیایي او په نهایت کې په نړیوال سیسټم کې د افغانستان د بشپړ ادغام لپاره د لا ښه ژور تعامل لپاره لاري چارې تشخیصوي.
- د دغه هر یو میکانیزمونو لپاره داسې ګامونه باید واخیستل شي چې مشوروکې، د ټول افغان برخه والو سره بحث او ګډون ډاډمن شي. دا لازمي ده چې افغان ښځې په ټولو هغو فارمتونو کې برخه واخلي چې د افغانستان راتلونکې اغېزمن کوي، او دا چې د افغان ښځو با مفهومه او منظم ګډون له لاري په فعال ډول سره طرح او پلې شي.
- په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندوي پلاوي (یوناما) د خپل ماموریت سره سم په مرکزي او ولایتي کچو کې یو لړ موضوعاتو په اړوند تعامل وکړي، راپور ورکړي او څارنه وکړي، او د افغانانو او نړیوالې ټولنې تر منځ د یو پُل په ډول خپله مهمه ونډه ولوبوي. همدارنګه د ژور تعامل د ملاتړ په کار کې خپل فعالیت ته دوام ورکړي.

د ملګرو ملتونو په واسطه د سترو ډله ییزو ناستو جوړول

- په اوس مهال کې تر ټولو زیات پراخ بنسټه پلاتفورم، په ۲۰۲۳ کال د مې په میاشت کې د عمومي منشي په نوښت د ځانګړو استازو د فارمت دایرول دی (چې وروسته له دې به د سترې ډلې فارمت په نوم یادیږي)، باید خپل منظم غونډو دایرولو ته ادامه ورکړي تر څو نړیوال پیوستون تامین شي او په تعامل همکاری لا نوره هم ښه شي. دغه فارمت کولی شوي د ځانګړو استازو او یا، څرنګه چې مناسبه وي، د بهرنیو چارو وزیرانو په کچه ناستې تر سره کړي.
- د توصیو د پر مخ بیولو د لومړي ګام په ډول، ملګری ملتونه باید د ټولو برخه والو سره مشوره پیل کړي چې په خپل وخت سره د سترې ډلې فارمت ناسته ترسره کړي په هغه کې د دغه سند مشوري او توصیې تر بحث لاندې ونیول شي، په ځانګړي ډول د دغه فارمت او همدارنګه په لاندې کې یاد شوي د نړیوال تماس ډلې رامنځته کول په ګډون.

د نړیوال تماس ډله

- د ستري تماس ډلې له منځ څخه انتخاب شوي، یوه بله د تماس کوچنۍ ډله باید رامنځته شي، د تماس دغه ډله د نړیواله برخه والو تر منځ د کړنو او تګلاری د موضوعاتو همغږي کوي، دوامداره ژور تعامل او همدارنګه د افغان برخه والو سره د اوسني چاروکو په ګډون د فعاله او دوامداره سیاسي تعامل لپاره د لا زیات مخکښ ونډه ترسره کړي.
- دا به د تماس دغې دلې لپاره ډیره مهمه وي چې د ټولو نړیوالو برخه والو د ملاتړ سره وکولې شي عمل وکړي. د دغې ډلې اغېزمنتیا به د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ملاتړ او تایید له لاري نور هم پیاوړي شي.

د ملګرو ملتونو استازی

- د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي باید و ټاکل شي تر څو د افغانانو او نړیوالو برخه والو تر منځ د تعامل د تسهیل لپاره کافي وقف شوی سرچېنې ډاډمن کړي، د همغږي مشري وکړي او موجوده وړاندیز شویو پلاتفورمونو سره ونښلوي. د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي به په پورته کې یاد شوي نړیوال تماس ډله کې د ملګرو ملتونو د استازي په صفت برخه اخلي او د منظمو ناستو له لاري د خپل ونډې ملاتړ کوي.
- د ځانګړي استازی دندي به د افغان او نړیوالو تر منځ پر دیپلوماسي او همدارنګه د افغانانو تر منځ د ډیالوګ پر مخ بیولو باندې تمرکز ولري. دا به په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کار بشپړونکې وي.

## ۵ برخه. پایلې

زه هېله لرم چې دغه ارزونه او د هغه توصیې افغان او نړیوالو برخه والو، غړي هېوادونو، د ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو سازمانونو ته د نظریو او لارښود وړاندیز وکړي، او همدارنګه د اوسني حالت د بدلون لپاره د اړتیا وړ هڅونه چمتو کړي.

زه د هغو ټولو ګډون والو څخه د زړه له کومې مننه کوم چې په دغه خپلواکه ارزونه کې مرسته کړي دي. ما، په ځانګړي ډول د افغان ښځو او نجونو د عزم او جرئت څخه په دوامدار توګه الهام تر لاسه کړی دی.

زما د مشورو څخه په روښانه ډول سره ښکاری چې د یو داسې افغانستان لپاره، چې د خپل وګړو سره، ګاونډیو سره او نړیوالې ټولنې سره په سوله کې وي، په نړیواله کچه په خپل لېد کې سره یو موټي دي. ټول برخه وال یوه ونډه لري چې باید د لا زیات سوله ییز، پرمخ تللي او په راتلونکې کې د وړاندوینې وړ افغانستان په رامنځته کولو کې، د ټول افغان وګړو د ګټو په خاطر، ولوبوي. افغانستان باید د ټول افغانانو وګړو د کور په ډول درک شي، او دغه موضوع د ټولو غړونو لپاره د فضاء د رامنځته کولو په خاطر په ګډه سره د کار کولو له لاری ممکنه ده.

استانبول

۲۰۲۳، اکتوبر ۲۶

## ضمیمه: د مشورو حیطه

د امنیت شورا غوښتنه وکړه چې یوه خپلواکه ارزونه د ملګرو ملتونو په دننه او بهر کې د پراختیایي، بشري، سیاسي اړوندو فعالینو تر منځ د یو موټي او منسجم تګ لاري لپاره، د مخ په وړاندي تګ لپاره ترسره شي، تر څو په افغانستان کې د اوسنې ننګونو ته د رسیدګۍ په خاطر وړاندي شي، دغه ننګونې په شمول خو نه محدود دې په، بشري مرستو، بشري حقونو په ځانګړي ډول د ښځو او نجونو حقونه، مذهبي او توکمیز، امنیتي او تروریزم، مخدره توکې، انکشافي، اقتصادي او ټولنیز ننګونې، ډیالوګ، د قانون حاکمیت او حکومتولي؛ او همدارنګه د یو عام شموله، پرمخ تللي، با ثباته، او امن افغانستان لپاره، د امنیت شورا له خوا په تېرو پریکړو لیکونو کې د ځای شوي مادو سره سم، اهداف پر مخ بیول شي.

د امنیت شورا د افغان برخه والو او ټولو اړوندو سیاسي فعالینو په شمول، اړوندو چارواکو، افغان ښځو، مدنې ټولنې او همدارنګه سېمه ییز او پراخ نړیوالې ټولنه سره، چې د ارزونې د پروسې د یوې برخې په ډول وي، د مشورو غوښتنه وکړه. د دغې دندې په پام کې نیولو سره د خپلواک ارزونې کاري ډله، په ځانګړي پام لرنې سره، چې په مشورو کې د غړو هیوادونو او سېمه ییزه سازمانونو (په ځانګړي توګه په سېمه کې هغه هېوادونه چې د افغانستان سره د تلپاتې تعامل لېوالتیا لري)؛ د افغانستان اوسنې چارواکې، افغان مدنې ټولنه، او نور افغان برخه وال، په ځانګړی ډول افغان ښځو او نجونو، و موضوعي او سېمه ییز چارو اړوند متخصصین؛ او هغه خواوو په ګډون چې د ملګرو ملتونو د سیستم په دننه کې کار کوي، سره متوازن او کافي پوښښ مشورې ډاډمن کړي.

د دغو مشورو او همدارنګه نور راټول شوي معلومات موخې، د افغانستان اوسنې ننګونو، تر دې مهال پوري تر سره شوي تګلاري او غبرګون، په راتلونکې کې دغه ننګونو ته غبرګون په خاطر د نړیوالې ټولنې لپاره د مناسب لارو تشخیصول او همدارنګه د اړوندو سیاسي، بشري او انکشافي فعالینو تر منځ (د ملګرو ملتونو په سیستم کې دننه او د هغه څخه بهر)، د لا زیات یو موټی او منسجم تګلاري لپاره، د توصیبو وړاندي کول وو.

د دغو مشورو د یوې برخه په ډول ځانګړي کوردیناتور ۱۵ غړي هېوادونو ته او افغانستان ته سفر وکړ. همدارنګه هغه د ۱۴ نورو غړو هېوادونو او سېمه ییز سازمانونو ستر استازو سره مشوري ترسره کړ. په عمومې ډول (د افغانستان څخه پرته) د غړو هیوادونو ۱۱۷ استازو سره مشوري شوي دي.

ځانګړی کوردیناتور د مخامخ مشورو د ترسره کولو لپاره دوه ځلې افغانستان ته سفر وکړ چېرته چې هغه د وزارتونو په کچه د اوسنې چارواکو سره، افغان سیاستوال، مدنې ټولنه او سوداګر مشران، ژورنالستان، ځوانان، زده کوونکې او نورو برخه والو سره لیدنې ترسره کړ.

دی په افغانستان کې میشت سفیرانو، ځانګړی استازو او د ډیپلوماتیکو چارو مسؤلینو سره هم مشوري ترسره کړي دي. دی همدارنګه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د عمومي منشی ځانګړي استازي او د هغې مرستیالانو سره – د هېواد په کچه د ملګرو ملتونو ډلې، موسسو، وجهو او پروګرامونو رئیسانو سره مشوري کړي دي.

د دې برسېره د ځانګړي کوردیناتور د ارزونې کاري ډله د افغانستان په ۷ ولایتونو کې مخامخ مشوري ترسره کړي دي، او په افغانستان کې د ۱۷ بیلابیلو ولایتونو څخه انفرادي کسانو سره مشوری کړي چې د افغان او نړیوال برخه والو د پراخ ډګر څخه استازیتوب کول. په دغه کې د وزارت، ولایت او ولسوالیو په کچه د اوسنې چارواکو استازو ، او د افغان ښځې او نارینه چې په عامه روغتیا، روزنه، بشري او انکشافي مرستو، ښځینه سوداګرانو او په ملکي خدمتونو کې دنده ترسره کول، شامل دي. په مشورو کې د مدنې ټولنې فعالین، ژورنالستان، زده کوونکې او نور انفرادي کسان چې د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې را پدېخوا د پېښو څخه په منفي ډول سره اغېزمن شوي وو، او د هغو کسانو سره چې د بشري حقونو څخه د تېرې قربانیان شوي وو په ګډون، زیات کسانو سره مشوره شوي دي.

د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې د پېښو پر مهال او تر هغه وروسته موده کې د بې ځایه شویو او خواره شویو افغانانو د جدې وضعیت په تاییدولو سره، ځانګړی کوردیناتور او د هغه کاري ډله داسې ګامونه واخیستل چې د هغو افغانانو نظریو تر لاسه کړي چې اوس مهال د افغانستان څخه بهر موقعیت لري، په دې کې دواړه د نورو غړو هېوادونو ته د سفرونو پر مهال او په آنلاین ډول سره مشوري ترسره شوي دي. په دې کې د یو ستر آنلاین خلاص ټلیفونې کرښې باندې مشوري چې د عمومې اسمبلې د غیر دولتې اړیکو خدمتونو د څانګې له خوا ترتیب شوي و، او یو شمېر واړه، غیرعامه متمرکز ډلې بحثونه او د ځانګړو برخه والو ډلو سره او یا د ارزونې د ځانګړي فرعي موضوعات باندې متمرکز شوي وو.

په ټولیز ډول، د ارزونې کاري ډله ۷۶۸ کسانو سره مشوري ترسره کړي دي، چې د هغې له جمعې څخه ۳۶۵ (۴۸ سلنه) ښځې او ۳۸۹ (۵۱ سلنه) نارینه وو.[33] دغه شمېر څخه ۶۷ سلنه افغانان او ۳۲ سلنه د نورو ملیتونو څخه وو.

په افغانستان کې دننه د ملګرو ملتونو ساحوي کارکوونکو سره د پراخو مشورو بر سېره، خپلواکه ارزونه په نیویارک، ژنو او نورو ځایونو کې د ملګرو ملتونو د موسسو د استازو سره هم تعامل درلود. په ټولیز ډول سره د ارزونې کاری ډله د ملګرو ملتونو موسسو، وجهو او پروګرامونو د ۱۲۴ د ملګرو ملتونو متخصصینو سره مشوری ترسره کړي دي.

همدارنګه د ارزونې کاري ډله په دغه راپور کې د یو شمېر کلیدي موضوعاتو په اړوند د افغان او نړیوالو متخصصینو سره، دبشري مرستو، د بشري حقونو په ځانګړي ډول د ښځو او نجونو حقونو، مذهبي او قومې لږکیو، امنیت او تروریزم، مخدره توکو، انکشافي، اقتصادي او ټولنیز ننګونو، ډیالوګ او د حکومتولې او د قانون حاکمیت د ډګرونو د متخصصینو په ګډون سره مشوری ترسره کړي دي. د مشوره شویو کسانو منځ کې د بشري مرستو پراخ ډګر کې فعالین هم شامل وو چې په افغانستان کې د بشري مرستو په ویشلو بوخت وو. په ځانګړي ډول د جندر په ډګر کې، ځانګړی کوردیناتور په خپل کاري ډله کې تل د جندر متخصص، د ملګرو ملتونو تازه تایید شوي ډېټا، احصایي او تحلیلونو، د ملګرو ملتونو په سیستم کې دننه او بهر، سرچېنو ته لاسرسي درلود.

---

[33] د برخه والو د جنسیت په دې تحلیل کې د ال، جې، بې، تې، کیو، آی، (همجنسګرایانو، نربښځېیانو او داسې نور) حقونو په اړه د یو متمرکز ډلې بحث په جریان کې د ۱۴ کسانو سره مشوره شامله نه ده، چا چې دا غوره کړه چې د دوي جنسیت د دوه جنسي په ډول و نه ښودل شي.